{ اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ }. الاحزاب (۶)

پــر مؤمنــانو نبــي ﷺ د خپلــو ځــانونو څخــه ډېــر محبــوب دی، او د پيغمبر ﷺ کوروالاوې د هغو (يعني مؤمنانو) ميندې دي.

# د نبي ﷺ د زياتو مېرمنو

# حکمتونه


**ليکنه:**

**شکرالله (رسولي)**



کال: ۱۳۹۷/۱[illegible]۱۹



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



## فهرست

عنوان | صفحه


مقدمه ........ 4
لمړی برخه ........ 5
مفاهیم او کلیات ........ 5
دوهمه برخه ........ 6
د تېرو پیغمبرانو علیهم السلام د مېرمنو شمېر ........ 6
لمړی: د سیدنا ابراهیم علیه السلام درې مېرمنې لرلې: ........ 7
دوهم: د یعقوب علیه السلام مېرمنې: ........ 7
د مېرمنو زیاتوالی په یهودیت کښې ........ 8
لمړی: د موسی علیه السلام د مېرمنو شمېر ........ 8
دوهم: د داود علیه السلام د مېرمنو شمېر ........ 8
دریم: سلیمان علیه السلام سل مېرمنې لرلې ........ 8
په نصرانیت کښې د زیاتو مېرمنو نکاح ........ 9
دریمه برخه ........ 11
د نبي علیه السلام د زیاتو مېرمنو حکمتونه ........ 11
لمړی حقیقت ........ 12
د محترم دوکتور مصطفی السباعي او د یو عیسوي تر منځ مباحثه ........ 13
دوهم حقیقت ........ 15
لمړی: تعلیمي حکمت ........ 16
د ام المؤمنین عایشې صدیقې رضي الله عنها پر علمیت د صحابه ؤ او تابعینو ویناوې ........ 18
دوهم: تشریعي حکمت ........ 20
دریم: ټولنیز حکمت ........ 21
څلرم: سیاسي حکمت ........ 22
پنځم: انساني حکمت ........ 23

ketabton.com - The Digital Library



شپږم: د اسوه يې حسنې(یا ښه اقتداء) حکمت ........ 24
الف- د عدل ويش ........ 24
ب - د پیغمبرﷺ کومک د کور په کارو کښي ........ 25
ج- خپلي مېرمني نه وهل ........ 25
د - د خپلو مېرمنو د وفات وروسته ورسره وفاء کول ........ 25
هـ- له خپلو مېرمنو سره ساعتيرى او بازی کول ........ 26
اووم شخصي حکمت ........ 27
څلرمه برخه ........ 29
د رسول الله رضي الله عنها سره د امهات المؤمنين نكاحوي او تر څنګ يې مصلحتونه ........ 29
لمړی: ام المؤمنین خدیجه رضي الله عنها ........ 29
دوهم: ام المؤمنین سوده رضي الله عنها ........ 30
دريم: ام المومنين عايشه صديقه رضي الله عنها ........ 31
څلرم: ام المؤمنین حفصه بنت عمر رضي الله عنها ........ 33
پنځم: ام المؤمنین زينب بنت خزيمة رضي الله عنها ........ 34
شپږم: ام المؤمنین ام سلمه هند المخزوميه رضي الله عنها ........ 35
اووم: ام المؤمنین زينب بنت جحش رضي الله عنها ........ 36
اتم: ام المؤمنین جويريه بنت الحارث رضي الله عنها ........ 39
نهم: ام المؤمنین ام حبيبه رضي الله عنها ........ 40
لسم: ام المؤمنین صفيه رضي الله عنها ........ 41
يولسم: ام المؤمنین ميمونه رضي الله عنها ........ 42
پایله ........ 43
مصادر ........ 44

ketabton.com - The Digital Library



## مقدمه

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبي بعده!

پدې کې شک نسته چې کفار په ځانګړې ډول يهود ،نصارا ، ملحدين او مستشرقين په هره زمانه کښې پر اهل حقو باندې مختلف تورونه لګوي، ددې لپاره چې خلګ ددې الهي مسير څخه را وګرځوي، تر ټولو لمړی ددې الهي مسير او الهي دين د پيغام رسونکو په ځانګړې ډول پر پيغمبرانو عليهم السلام باندې بې ځايه او غير منطقي تورونه لګوي، او هدف يې يوزاې او يوزاې پر الهي وحي باندې الزام لګول دي، چې پدې لړ کې د نبيﷺ پر غوره شخصيت باندې دا تور لګوي چې ده ولې زياتې مېرمنې په نکاح کړې دي؟، په داسې حال کښې چې امت ته څلور ښځې روا دي؟، او يا دا چې نعوذبالله دیﷺ زيات خواهش خوښونکی او د نفس تابع ؤ؟؟؟ او داسې نورې د حقيقت او واقعيت څخه ليرې شبهې، خو دا ددوی يو بې ځايه او غير منطقي او خطا ايستونکې شبه ده چې نن ورځ زيات کفار او ځينې مسلمانان د دوی ددغه شبه تر اغيز لاندې راغلي او د کم علمۍ او د تحقيق د نه کولو له امله په شبه کې پراته دي، نو د يو با احساسه مسلمان په توګه مې وغوښتل چې د کفارو دغه بې بنسټه ادعا په نقلي او عقلي دلائلو جواب کړم، ځکه پر هر مسلمان دا فرض ده چې د دين په دفاع کې به د هيڅ طاقت څخه دريغ او سپما نه کوي، علمي جواب به ئې په علم ورکوي او مادي جواب به ئې بالمقابل ورکوي.

ددې لپاره چې د نومورې موضوع حقيقت ښه روښانه سي نو نوموړی کتاب څلورو برخو ته ويشل شوی دی، لمړۍ برخه يې مفاهيم او کليات دي، په دوهمه برخه کې د تېرو پيغمبرانو د مېرمنو و زياتوالي ته اشاره کيږي، دريمه برخه کې د محمد مصطفی ﷺ د زياتو مېرمنو حکمتونه بيانيږي او تر څنګ يې يو شمېر زياتو اړوندو مهمو مسائلو ته هم اشاره کيږي، څلورمه برخه کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د امهات المؤمنين مبارکې نکاحوې او تر څنګ ئې مصلحتونه بيان سوي دي.

نو زما حقير او کم علمه بنده دا ناچيزه ليکنه تاسو په يوه لويه ليکنه حساب کړې، او که کومه نيمګړتيا او تيروتنه شتون ولري نو هيله کوم چې يادونه ئې راته وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library



# لمړی برخه

## مفاهیم او کلیات

**الف**: **تبني**

غیر نسبي زوی په زویوالي نیول، او په حقوقو کښې د نسبي زوی او د غیر نسبي ترمنځ فرق نه کول.

پخوا په عربو کښې دا عادت ؤ چي چا ته به یې وویل چي: " ته زما زوی یې" نو په حقیقي ډول به یې زوی باله، او په ټولو احکامو کښې به یې د نسبي زوی په سترګه ورته کتل، لکه واده، طلاق، د نکاح محرمات او مېراث....

**ب**: **تاخي**

غیر نسبي ورور په ورورولۍ نیول، او بیا ټول هغه حقوق چي سکه ورور ته ورکول کیږي ده ته هم ورکول.

د جاهلیت په زمانه کښې ځینو عربو به یو او بل ته ویل: " ته زما ورور یې" نو پدې خبري سره به هغه دده حقیقي ورور وګرځېدی، او هغه څه چي نسبي ورور ته حلال وه هغه به دې غیرنسبي ورور ته هم حلال وه او هغه څه چي نسبي ورور ته حرام وه هغه به غیر نسبي ورور ته هم حرام وه.

ketabton.com - The Digital Library



# دوهمه برخه

## د تېرو پیغمبرانو علیهم السلام د مېرمنو شمېر

ددي عنوان څخه مطلب دادی چي یوازي نبيﷺ زیاتي میرمني نه دي کړي بلکه تېرو پیغمبرانو هم زیاتي مېرمني لرلي، بل دا چي یهود او نصارا پر تېرو پیغمبرانو ایمان لري او د تېرو پیغمبرانو واقعات او کړنلاري په انجیل او تورات کښي بیان سوې دي، او دوی پر تورات او انجیل ایمان لري، نو ځکه مو اول وغوښتل چي د تېرو پیغمبرانو د مېرمنو شمېر اول ذکر کړو تر څو خبره په پوره ډول واضح سي، یعني هغه پیغمبران چي تاسو ایمان ورباندي لری هم د زیاتو مېرمنو د لرلو څخه مستثنی او مستغني نه دي، بلکه دوی هم زیاتي مېرمني لرلي چي د زیاتو حکمتونو په اساس دا یو الهي اجازه ؤ چي دوی ته ورکړل سوې وه، نو له دې امله اول پدي عنوان باندي پیل کوو.

دا چي د تورات او انجیل څخه مخکي کوم ځانګړی کتاب شتون نه درلود، بلکه ځیني صحیفې وي چي پر پیغمبرانو علیهم السلام به نازلیدلې او همدارنګه ځیني تاریخي روایات هم شتون لري، خو په دې ټولو کښي داسي کوم روایت نسته چي د زیاتو میرمنو د کولو ممانعت او ناروا والی دې پکښي راغلي وي.

ketabton.com - The Digital Library



## لمړی: د سيدنا ابراهيم ﷺ درې مېرمنې لرلې:

الف- ابراهيم ﷺ لمړی د بي بي ساره رضي الله عنها سره نكاح كړې وه، چې د ساره رضي الله عنها څخه اسحاق ﷺ پيدا سو.

ب – بي بي هاجر رضي الله عنها، نوموړې بي بي د اسماعيل ﷺ مور وه.

ج- بي بي قتوره، د دې شپږ زامن وه، لكه: زمران، يقان، مدان، مديان، اسباق، سنوخ.[1]

## دوهم: د يعقوب ﷺ مېرمنې:

يعقوب ﷺ څلور مېرمنې درلودې، چې نمونه يې په لاندې ډول دي:

الف- لياه: دا د پنځو اولادو مور وه لكه: سمون، لاوي، يهوده، اشكار او زبون.

ب- زلفه: دې دوه زامن لرل لكه: جد او آثر.

ج- راحيل: چې لدې ميرمنې څخه يې يوسف ﷺ او بنيامين پيدا سوي وه.

د- بلهمه: دا د دان او نفتاى مور وه.[2]

[1] تعدد زوجات الرسول صلى الله عليه وسلم، ملك غلام مرتضى، ددې كتاب په حواله كتاب الخلق (۴/۱۶) كتاب الخلق (۱۵/۱۸) كتاب الخلق (۱۰/۲۵)كتاب الخلق (۲۹-۲۳/۲۹) كتاب الخلق (۲۳/۲۹) ص-(۱۵۲)، د چاپ موافق ، ناشر: مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة، مكتبه شامله.
[2] مخكنى مرجع.

ketabton.com - The Digital Library



## د مېرمنو زیاتوالی په یهودیت کښې

د ابراهیمؑ څخه وروسته موسیؑ د نبي او رسول په توګه راولیږل سو چې د ځان سره یې تورات کتاب هم درلود ، ، دا چې نن ورځ تورات تحریف سوی دی، او منسوخ دی او د عمل وړ نه دی، خو بیا هم ددې سره یې هغه احکام منل کیږي چې د قرانکریم او احادیثو سره سمون خوري، او کولایسو چې د مستشرقینو لپاره یې د دلیل په توګه راوړو.

### لمړی: د موسیؑ د مېرمنو شمېر

موسیؑ د څلورو مېرمنو سره واده کړی ؤ:

ج- بي بي سفوره: دا د جیسون او عیزر مور وه.

ب- جبشیه.

ج- د قیني لور.

د – د حباب لور.[1]

### دوهم: د داودؑ د مېرمنو شمېر

داود ؑ د نهو بیبیانو سره واده کړی ؤ، لکه څنګه چې د صیموئیل نومي کتاب کښې راغلی دي، چې

د داود ؑ (۹) بیبیاني لرلي، چې هلته یې نومونه او د اولادو نومونه هم راغلي دي.[2]

حتی دا هم ویل سوي دي چې داود ؑ د ۹ کوروالاو څخه وروسته د ۹۹ کوروالاو سره نکاح کړې ده.[3]

### دریم: سلیمانؑ سل مېرمني لرلې

په سلاطین نومي کتاب کښې راغلي دي چې د سلیمانؑ اوه سوه میرمني او درې سوه یې وینځیاني لرلي.[4]

---

[1] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله علیه وسلم، ص: (۴)، مکتبه شامله، نشرونکی: مجلة الجامعة الاسلامیه بالمدینه منوره، د چاپ موافق، په حواله: کتاب الخروج(۳۱/۲) کتاب القاضیون(۱۶/۱) کتاب القاضیون (۱۶/۴).

[2] تعدد زوجات الرسول صلی الله علیه وسلم، ص: (۴)په حواله: کتاب صیموئیل (۲۶/۲۳)، ناشر: مجلة الجامعة الإسلامیة بالمدینة المنورة.

[3] موسوعة بیان الاسلام، محمد ربیع محمد الجوهري دویم قسم، د رسولانو بیان، د نبيؐ د ژوند په اړه شبهات، ج (۱) ص (۷۸) في ډي ایف، د همدې کتاب په حواله،(موسوعة الاسرة تحت رعایة الاسلام)، الشیخ عطیه صقر، ج (۶) ص (۴۱).

[4] تعدد زوجات الرسول صلی الله علیه وسلم، ص: (۴)، مکتبه شامله په حواله: کتاب سلاطین (۱۱/۳).

ketabton.com - The Digital Library



مگر په صحيح بخاري، صحيح مسلم او نورو د احاديثو په کتابونو کښي د رسول اللهﷺ حديث شريف دی چي سليمانعليه السلام سل ښځي لرلي، لکه څنگه چي ابوهريرهرضي الله عنه د نبيعليه السلام څخه روايت کوي چي رسول اللهﷺ وفرمايل: سليمانعليه السلام د داود عليه السلام زوی وويل: چي نن شپه به زه خامخا د خپلو سلو يا نه نوېِ ښځو سره کوروالی کوم هره يوه به يو اولاد راوړي، او دا اولاد به د اللهعزوجل په لار کښي جهاد کوي، يو ملگري يې ورته وويل: ان شاء الله ووايه، نو سليمانعليه السلام ان شا الله و نه ويل، هېره يې سول، نو ددې کوروالی څخه وروسته يوه هم حامله نه سوه بيله يوې ښځي څخه چي هغې هم نيم اولاد راوړ، نو نبيعليه السلام فرمايې چي زما دې په هغه ذات قسم وي چي زما نفس د هغه په لاس کي دی، کچيري يې ان شاء الله ويلې وای نو خامخا به ټولي حاميلي سوې وای او اولادونو به يې د اللهعزوجل په لار کښي جهاد کولای.[1]

## په نصرانيت کښي د زياتو مېرمنو نکاح

انجيل هم د تېر کتاب يعني توارت مکمل کونکی ؤ، هغه څه چي تورات حرام گرځولي وه هغه يې همداسي حرام وگرځول او هغه څه چي يې حلال گرځولي وه هغه يې همداسي حلال پريښول.[2]

لدې کبله عيسيعليه السلام خپل قوم ته وفرمايل: تاسو دا گمان مه کوئ چي زه هغه دين چي مخکښنيو انبياؤ راوړی دی نيمگړی کړم، بلکه زه د انبياؤ د تېر دين مکمل کونکی يم.[3]

همدارنگه اللهجل جلاله د عيسيعليه السلام همدغه قول په قرانکريم کي رانقل کړی دی، اللهجل جلاله داسي فرمايې: ﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُبِينٌ﴾.[4]

ژباړه: او عيسيعليه السلام د مريمرضي الله عنها زوی ويلي وه: اې بني اسرائيلو! زه تاسو ته د الله راليږل سوی پيغمبر يم، د هغه تورات تصديق کونکی يم چي زما څخه مخکي راغلی ؤ، او د يو پيغمبر زېری ورکونکی يم چي زما څخه به

---

[1] صحيح البخاري، محمد بن اسماعيل البخاري، کتاب الجهاد والسير، باب: من طلب الولد للجهاد، او مسلم شريف، کتاب الايمان، باب الاستثناء.
[2] موسوعة بيان الاسلام، محمد ربيع محمد الجوهري دويم قسم، د رسولانو بيان، د نبيعليه السلام د ژوند په اړه شبهات، ج (۱) ص (۷۹) في ډي ايف.
[3] موسوعة بيان الاسلام، محمد ربيع محمد الجوهري دويم قسم، د رسولانو بيان، د نبيعليه السلام د ژوند په اړه شبهات، ج (۱) ص (۷۹) في ډي ايف کتاب په حواله: متی (۵:۱۷).
[4] سورت الصف، ۶ ايت.

ketabton.com - The Digital Library



وروسته راسي چي نوم به يې احمد وي، "- خو کله چي هغه (يعني محمد ﷺ) دوی ته له ښکاره ځرګندو نښانو سره راغی، نو دوی وويل: "دا خو ښکاره جادو دی."[1]

نو لدې کبله ويلای سو چي عيسی ﷺ هم د تېرو انبياؤ په څېر د زياتو ميرمنو نکاح حرامه نکړه، او په انجيل کي داسي کوم صريح نص نسته چي د زياتو کوروالا څخه دې يې ممانعت کړی وي.[2]

نو اوس دا خبره په صراحت سره کولای سو چي رسول الله ﷺ او اسلام د زياتو مېرمنو پر روا والي باندي يوزای نه دی، بلکه تېرو اديانو او پيغمبرانو هم داسي کړنه جايز بللي او عمل يې ورباندي کړی ؤ، خو ددې سره د بشر په لاس جوړ سوې وضعي قوانين د زياتو مېرمنو کول ناجايز بولي چي پدې کړنې سره د عيسوي دين حکم هم حراموي.[3]

[1] پښتو ژباړه: تفسير کشاف، سورت الصف ۶ ايت.

[2] موسوعة بيان الاسلام، محمد ربيع محمد الجوهري دويم قسم، د رسولانو بيان، د نبي ﷺ د ژوند په اړه شبهات، ج (۱) ص (۷۹) في ډي ايف کتاب په حواله.

[3] مخکنۍ مرجع.

ketabton.com - The Digital Library



# دریمه برخه

## د نبيﷺ د زیاتو مېرمنو حکمتونه

مخکې له دې چې د نبيﷺ د زیاتو مېرمنو په حکمتونو پیل وکړو یوه خبره د یادوني وړ ده چې د مسلمانانو یقین او باور پدې دی چې د نبيﷺ هر قول، فعل او تقریر شرعي بڼه لري او یو الهي حکم دی، نو په دې اساس موږ په دې یقین لرو چې د نبيﷺ د زیاتو میرمنو کول یو الهي حکم ؤ، بیله چون او چرا یې منو او پدې کښې هیڅ شک او شبه نه کوو.

مگر نن ورځ یهود او مستشرقین پر اسلام باندې د سیلاب په شان را مات دي او د هرې خوا اسلام د مسلمانانو او نړیوالو په اذهانو کښې مشکوک معرفي کوي، او پر اسلام باندې مختلف بې بنسټه تورونه لگوي ددې لپاره چې پخواني مسلمانان په شک کې واچوي او نوي مسلمانان و اسلام ته د راتگ څخه منع کړي، نو بیلابیل بې بنسټه تورونه پر قرانکریم، رسولانو او په ځانگړې ډول ددې الهي دین پر لمړي داعي او د انسانیت پر ستر لارښود محمد مصطفیﷺ پر مبارک شخصیت باندې لگوي، چې ددې تورونو څخه یو هم د نبيﷺ د زیاتو مېرمنو د کولو یو بې اساسه او د حسد څخه ډک تور دی، چې د مستشرقینو او یهودو په اند نعوذبا الله، نبيﷺ زیات خواهش درلود او د خپل نفس تابع ؤ نو ځکه یې دومره زیاتې میرمني کړې دي؟ سبحانک هذا بهتان عظیم! نو ددې بې بنسټه او غیر معقولې ادعا د رد لپاره موږ ځینو داسې حکمتونو ته اشاره کوو چې هم په شرعي او انساني لحاظ او هم په حقوقي لحاظ د دوی دغه د حقیقت څخه لیرې ادعا بلکل ور بې بنسټه او د الهي مخکني او وروستني دین احکامو له لحاظه مردوده او غیر معقوله معرفي کوي.

ددې هر څه سره چې کفار پر پیغمبرﷺ باندې بې اساسه تهمتونه لگوي، ځیني هوښیار او د تعصب څخه لیرې کفار د منطق او حق څخه ډکې خبرې کوي، او د مطالعې څخه وروسته د رسول اللهﷺ د زیاتو مېرمنو د کولو په اړه و حق ته رسیږي او حقیقت ورته واضح کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



چي له دې جملې څخه يو هم (توماس کارليل) يادولايسو چي هغه پدې اړه داسي وايي: پيغمبرﷺ شهوت خوښونکي نه ؤ، لکه څنگه چي ځينو خلگو ده ته د دارنگه ظلم نسبت کړی دی، او بيا وايي: موږ زيات ظلم او خطا کوو چي پيغمبرﷺ ته د يو شهواني انسان نسبت کوو، نه هيڅکله داسي نه ده! دده او د هغه شهواني انسان تر منځ زيات ليريوالي او فرق دي.[1]

دلته لمړی غواړم د نبي عليه السلام د زياتو مېرمنو د حکمتونو تر څېړلو مخکي و دوو ښکاره حقيقتونو ته اشاره وکړم تر څو لاندي حکمتونه ښه ورباندي واضح سي.

## لمړی حقيقت

د زياتو مېرمنو کول د اسلام څخه مخکي هم په عربي ټولنه کي شايع او معمول ؤ.

الف- (عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ، فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ، «فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَخَيَّرَ أَرْبَعًا مِنْهُنَّ) .[2]

ژباړه: غيلان بن سلمه الثقفي په داسي حال کښي اسلام راوړ، چي لس ښځي يې لرلي، نو رسول اللهﷺ امر ورته وکړ، چي څلور ښځي ددې لسو ښځو څخه انتخاب کړي او نوري دي طلاقي کړي.

ب- (قَالَ: أَسْلَمْتُ وَعِنْدِي ثَمَانُ نِسْوَةٍ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اخْتَرْ مِنْهُنَّ أَرْبَعًا) .[3]

ژباړه: حارث بن قيس رضي الله عنه فرمايي: چي ما په داسي حال کښي اسلام قبول کړ چي اته ښځي مي په نکاح کي وې، نو دا حال مي نبيﷺ ته بيان کړ، نو هغهﷺ راته وويل : چي څلور ښځي ځني انتخاب کړه نوري طلاقي کړه.

[1] تعدد الزوجات في الاسلام و حکمة تعدد زوجات النبيﷺ، استاذ عبدالله ناصح علوان، صفحه: (۲۹) ناشر: دارالسلام، في ډي ايف بڼه، ددې کتاب په حواله: کتاب "الابطال" صفحه: (۸۳).

[2] سنن ترمذي، محمد بن عيسى الترمذي مړينه:(۲۷۹هـ)، ج:(۳)،ص:(۴۲۷)، باب: باب ماجاء فی الرجل يسلم و عنده عشر نسوه، تحقيق:احمد محمودشاکر، ناشر: شرکة و مکتبة و مطبعة مصطفى البابي الحلبي-بيروت، دوهمه طبعه،۱۳۹۵هـ، د چاپ موافق.

[3] سنن ابي داود، ابو داود سليمان بن الاشعث، السجستاني، مړينه(۲۷۵هـ)، ج:(۲) ص:(۲۷۲) حديث:(۲۲۴۱)، باب: باب فی من اسلم و عنده نساء اکثر من اربع او اختان، محقق: محمد محي الدين عبدالحميد، ناشر: مکتبة العصرية، بيروت، مکتبه شامله، د چاپ موافق.

ketabton.com - The Digital Library



نو له دې کبله زیاتو عربانو زیاتي کوروالاوي کولي او پدې اړه یې کوم باک نه کوی، او بله دا خبره هم د لمر په شان ددې دوو حدیثونو څخه ثابتیږي؛ چې د رسول الله ﷺ څخه ماسیوا بل هیڅ امتي ته نه ښایي چې د څلورو څخه زیاتي مېرمني په یو وخت کې د ځان سره ولري ځکه پیغمبر ﷺ هغه دوو صحابوو ته امر وکړ چې څلور ښځې دې د ځان سره ولري او نورې دې طلاقي کړي، نو که چیري د رسول الله ﷺ لپاره د څلورو څخه زیاتي مېرمني نارواوای نو دې صحابه ؤ به ورته ویلي وای چې تاسو خپله د څلور زیاتي مېرمني لری ولي موږ ځني منع کوئ؟ خو دا داسي پوښتنه وه چې ټولو صحابه ته واضح وه، چې دا الهي حکم دی چې رسول الله ﷺ زیاتي مېرمني په نکاح کښې ساتلای سي.

خو پوښتنه دلته داده چې ولي د اسلام دښمنان یوازې د پیغمبر ﷺ مبارک شخصیت په نښه کړی؟، او ولي یې یوازې رسول الله ﷺ پدې اړه خاص کړی دی؟، پداسي حال کښې چې مخکنیو انبیاؤ ﷺ هم زیاتي مېرمني لرلې.

نو د دې پوښتني د جواب لپاره د نامتو عالم محترم دوکتور مصطفی سباعي رحمة الله علیه او یو عیسوي تر منځ هغه مباحثه را نقلوم چې د رسول الله ﷺ په اړه یې کړې ده، تر څو د دوی پدې بې اساسه تورونو مو نور هم ښه سر خلاص سي.

## د محترم دوکتور مصطفی السباعي او د یو عیسوي تر منځ مباحثه

محترم دکتور مصطفي السباعي رحمه الله پخپل کتاب (المراة بین الفقه والقانون) په (۹۶) صفحه کښې فرمایي:
کله چې زه په ۱۹۵۶ م کال د ایرلنډ په دبلن نومي ښار کې وم، نو د یو داسي معهد سره مي ملاقات وسو چې هلته د عیسویانو مشران اوسیدل، نو زما او ددې ځای د مدیر تر منځ زیات بحث وسو، ما ده ته وویل: تاسو ولي داسي بې ځایه خبري پر اسلام او په ځانګړي ډول پر پیغمبر ﷺ باندي کوی چې هیڅ اساس او بنسټ نلري، او په خپلو درسي کتابونو کښې مو هم دارنګه خبرو ته ځای ورکړی ؟!

نو ده ما ته داسي ځواب راکړ: موږ د غرب اوسیدونکي یو موږ د هغه چا احترام نه کوو چې د ۹ ښځو سره یې واده کړی وي!..

ما ورته وویل: آیا تاسو د دواد ﷺ، او د سلیمان ﷺ احترام لرئ؟

ketabton.com - The Digital Library



ده وویل: هو ولي نه! هغه دواړه زموږ په نزد د تورات پیغمبران وه![1]

ما ورته وویل: د داود ﷺ سل ښځې وې، او د سلیمان ﷺ لکه څنګه چې په تورات کښې راغلي دي اوه سوه یې ازادې ښځې وې او درې سوه یې وینځیانې وې، او د هغه زماني تر ټولو ښایستي ښځې وې، نو تاسو ولې د هغه چا احترام کوی چې زر ښځې یې کړې وې او د هغه چا احترام نه کوی چې ۹ کوروالاوې لرې؟ د هغه چا کوروالاوې چې اته یې کونډیانې وې او ځینې یې سپینسرې وې، او یوازې یوه ئې ځوانه وه.

نو دی یو ګړی چپ سو او بیا یې وویل: خطا سوی، زه دا ګمان کوم چې موږ غربیان د یوې ښځې څخه ماسیوا له نورو سره د واده کولو جواز نلرو، او موږ ته دا خبره سوې وه څوک چې زیات ودونه کوي هغه د پرمختګ او ترقۍ خلاف دی، او زیات شهوت لرونکی دی!.

ما ورته وویل: نو تاسو د داود ﷺ، سلیمان ﷺ او د بني اسرائیلو د پیغمبرانو په هکله څه وایاست سره ددې چې د بني اسرائیلو پیغمبرانو زیاتې مېرمنې په یو وخت کې لرلې چې همدا سلسله د ابراهیم ﷺ څخه شروع کیږي؟.

نو دی ساکت سو او جواب یې نه درلود.....[2]

پوښتنه: کیدا ایسې څوک دا پوښتنه وکړي چې ولې پیغمبر ﷺ زیاتې کوروالاوې کړې وې، پداسې حال کښې چې الله جَلَّ جَلَالُهُ د څلورو ښځو د کولو حکم کړی دی؟.

ځواب: د د څلورو څخه د زیاتو کوروالاو په یو وخت کښې په نکاح کې ساتل دا یوازې د پیغمبر ﷺ ځانګړتیا وه، او دا ځانګړتیا دده ﷺ پورې خاص ده، بل هیچا ته روا نه ده چې د پیغمبر ﷺ د ځانګړتیاؤ تابعداري وکړي، همدا ډول د رسول الله ﷺ د څلورو څخه د زیاتو مېرمنو په کولو کښې او د امت لپاره د تر څلورو پورې د مېرمنو په کولو کښې ټولو مجتهدینو او فقهاؤ په هره زمانه کښې اجماع کړې ده، او د رسول الله ﷺ د ځانګړتیاؤ په هکله زیات کتابونه لیکل سوي دي، او زیاتو فقهاؤ او مفسرینو په دې اړه مفصل بحث کړی دی.[3]

---

[1] تعدد الزوجات في الاسلام و حکمة تعدد زوجات النبي ﷺ، ص:(۳۰)، په حواله: (المراة بین الفقه والقانون)، دوکتور مصطفي السباعي صفحه (۹۶).

[2] مخکنی مرجع، ص: (۳۱)، د همدې کتاب په حواله: (المرة بین الفقه والقانون) دوکتور مصطفي السباعي، صفحه (۹۶).

[3] همدغه مرجع، ج (۱) ص: (۳۱).

ketabton.com - The Digital Library



## دوهم حقیقت

د نبي کریمﷺ نکاح د زیاتو مېرمنو سره په داسي حالت کي سوې ده چي د رسول اللهﷺ مبارک عمر زیات سوی ؤ.

په تاریخي ډول دا خبره روښانه ده چي په مکه کي د خدیجېرضي الله عنها د وفات څخه وروسته رسول اللهﷺ د سودېرضي الله عنها څخه ماسیوا د بل هیچا سره واده نه ؤ کړی، تر دې چي مدینې ته یې هجرت وکړ، خو هغه وخت یې په نکاح کښي زیاتوالی راوستی چي کله اسلامي دولت جوړ سو، اسلام تر مختلفو قبایلو پوري ورسید، چي د دې نکاحگانو څخه یې زیات اهداف او اصلاحي اغراض لرل چي وروسته به ورڅخه یادونه وکړو.

او د تاریخي اړخه دا خبره ثابته او واضحه ده چي رسول اللهﷺ د خدیجېرضي الله عنها سره په داسي حالت کښي واده وکړ چي پیغمبرﷺ ځوان ؤ او عمر یې ۲۵ کاله ؤ، او خدیجهرضي الله عنها کونډه وه او د څلویښتو کالو وه، چي د رسول اللهﷺ سره یې پنځلس کاله ژوند تېر کړ، او خدیجهرضي الله عنها د هجرت څخه درې کاله مخکي وفات سول، او د خدیجېرضي الله عنها مبارک عمر د وفات په حالت کښي پینځه شپیته کاله ؤ.

نو آیا دا به معقوله خبره وي چي نعوذبالله پر پیغمبرﷺ باندي د شهواني انسان حکم وکړل سي؟ پداسي حال کښي چي پیغمبرﷺ د ځوانۍ حالت ؤ، او د یو داسي ښځي سره یې واده کړي ؤ چي له ده څخه زیاته مشره وه، او کونډه سوې وه، پس ولي د اسلام دښمنان د پوره حقیقت د درک څخه وروسته بیا هم د رسول اللهﷺ پر مبارک شخصیت باندي داسي بې ځایه تورونه لگوي؟.

جواب: د اسلام دښمنانو په دې بې ځایه تورونو سره الهي شریعت تحریفوي، ددي لپاره چي خپلي سینې په مخکني بغض او دښمني یخي کړي، نو غواړي چي ددې اخیري الهي دین پر لمړي استازي بې بنسټه تورونه ولگوي تر څو خلگ د اسلام د حقانیت په هکله په شک کښي واچوي.

ketabton.com - The Digital Library



آیا هغه ښځې چې پیغمبرﷺ ورسره نکاحوي کړې وې وینځیاني او کونډیاني نه وې؟آیا هغوی سپینسري او ناچاره نه وې؟ نو که چیرې خبره همداسې وي؛ نو دا بې ځایه تورونه او تهمتونه د څه لپاره؟آیا دا هر څه پر ړوند تعصب او بوی لرونکي بغض دلالت نه کوي؟.[1]

اوس راځو د نبي کریمﷺ د زیاتو مېرمنو د نکاح تر څنګ چې کوم حکمتونه او مصلحتونه شتون لري، هغه یو په یو تر څېړنې لاندې نیسو.

## لمړی: تعلیمي حکمت

د نبيﷺ واده د زیاتو مېرمنو سره له یو شمېر زیاتو حکمتو او مصلحتو پیلامه وه.

لکه څنګه چې ښځه او نر د الهي دین له لحاظه دواړه مسؤل او مخاطب دي او الهي احکام هم دواړو ته متوجه دي، نو له دې امله نبيﷺ د امت لپاره ښځینه مفتیانې او معلمانې تیارې کړې ، تر څو د ضرورت په وخت کښې و ځینو حساسو او باریکو پوښتنو ته چې تر ښځو پورې اړه ولري او یا عام مسائل وې جواب ووایې، نو ځکه یې لمړی د تعلیمي یا دیني حکم له وجې زیاتې مېرمنې په نکاح کولې، او بل دا چې د ام المؤمنین عایشېرضي الله عنها او صفيې رضي الله عنها څخه ماسیوا نورې ټولې د نبيﷺ کوروالاوې کونډیانې وې، چې په عقلي لحاظ هم یو ځوان هیڅکله د ۵۰ یا ۶۵ کالو ښځه نه په نکاح کوي، مګر نبيﷺ د انساني او تعلیمي حکمت له وجې له دوې سره نکاح کول تر څو هغه احکام او مسایل چې تر ښځو پورې ځانګړې دې زده کړې او تر نورو یې ورسوي.

د نبيﷺ د زیاتو مېرمنو د کولو څخه اساسي هدف تعلیمي حکمت ؤ، ځکه عایشېرضي الله عنها به د هغه علم په ذریعه چې د نبيﷺ څخه یې زده کړی ؤ د دین تدریس او تبلیغ کوی او په زیاتو مهمو او حساسو مسائلو کښې یې فتواوې ورکړې دي، چې ددې رضي الله عنها د کوښښونو له وجې امت ته د شریعت د څلرمې حصې احکام ددې لخوا نقل سوي، نو لدې څخه په واضح ډول ښکارې چې د نبيﷺ واده د زیاتو مېرمنو سره په ځانګړې ډول د ام المؤمنین عایشې صدیقېرضي الله عنها سره د یو لوی مصلحت او تعلیمي حکمت له وجې ؤ.

[1] تعدد الزوجات في الاسلام و حكمة تعدد زوجات النبيﷺ ، ص:(۳۲).

ketabton.com - The Digital Library



زياتو ښځو به د نبيﷺ څخه د ښځو اړوند مسائل لکه حيض، نفاس، د خاوند او ښځي مسائل، جنابت... او داسي نوري پوښتني د حياء او شرم له وجي نسواى کولاى، نو ډېر مشکل ؤ چي يوه ښځه دي د داسي حساسو مسائلو په اړه د نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړي مگر کله کله به د ډېر ضرورت په اساس ځينو ښځو پوښتني کولې لکه د عايشيرضي الله عنها څخه روايت دی دارضي الله عنها فرمايي:[1]

(أَنَّ امْرَأَةً سَأَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ المَحِيضِ، فَأَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ، قَالَ:«خُذِي فِرْصَةً مِنْ مَسْكٍ، فَتَطَهَّرِي بِهَا» قَالَتْ: كَيْفَ أَتَطَهَّرُ؟ قَالَ:«تَطَهَّرِي بِهَا»، قَالَتْ: كَيْفَ؟، قَالَ:«سُبْحَانَ اللَّهِ، تَطَهَّرِي» فَاجْتَبَذْتُهَا إِلَيَّ، فَقُلْتُ: تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ).[2]

ژباړه: يوې انصارى ښځي د نبيﷺ څخه د حيض څخه د غسل کولو پوښتنه وکړل، نو نبيﷺ د غسل کولو طريقه وروښودل، او بيا يې ورته وويل: چي يو خوشبويه ټوکر واخله او پاکي راوله، انصارى ښځي وويل: "څنګه پاکي راولم" نبيﷺ ورته وويل: پاکي وربانديي راوله، بيا ښځي وويل: څنګه پاکي راولم؟، بيا نبي ﷺ وويل: سبحان الله، پاکي وربانديي راوله، نو عايشهرضي الله عنها فرمايي: چي ما دا ښځه خپل ځان ته را نيژدي کړل او ورته ومي ويل: د ويني ځايونه وربانديي پاک کړه.

همدا رنګه نوري زياتي پوښتني سته په ځانګړي ډول د حيض، نفاس او جنابت په اړه چي ددې ټولو پوښتنو جوابونه به زيات وخت د نبيﷺ په ژوند کښي او وروسته تر وفات هم امهات المومنين ورکول، لکه څنګه چي دا خبره د لمر غوندي روښانه ده چي حديث مطهره د قرانکريم څخه وروسته د اسلام د مصادرو څخه دوهم مصدر ګڼل کيږي، چي د نبيﷺ له قول، فعل او تقرير څخه عبارت دي، نو له دې وجي هيڅوک د نبيﷺ قول، فعل او تقرير تر هغه وخته پوري په مکمل ډول نسي درکولاى تر څو چي د نبيﷺ سره يې په ټولو وختو کښي ملګري نه وي کړې، حتى چي د نبيﷺ سره يې د خوشحالۍ، غصې، اسانۍ، تنګۍ او د يوازيتوب په حالاتو کښي

[1] رفع ابهامات و اباطيل از تعدد زوجات رسول اللهﷺ، محمد علي صابوني، ص:(١١)، فارسي ژباړه: د عقيدې سايټ، ناشر: د عقيدې سايټ.

[2] صحيح البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، جلد -(١) صفحه- (٧٠). حديث (٣١٤)، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة، الطبعة: الأولى، 1422هـ، د چاپ موافق،

ketabton.com - The Digital Library



ملګري نه وي کړې، او تر څو چې د نبيﷺ سره يې په مهمو، غير مهمو،عامو، شخصي او د ژوند په ټولو امورو کښي ملازمت او ملګري نه وي کړې.[1]

## د ام المؤمنين عايشې صديقيې رضي الله عنها پر علميت د صحابه ؤ او تابعينو ويناوي

د قبيصه بن ذوئب څخه روايت دی، دی فرمايي: عايشه رضي الله عنها تر ټولو خلګو عالمه وه ځکه چي لويو لويو صحابه ؤ به لدې څخه پوښتني کولې.[2]

(أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ. أَخْبَرَنَا زِيَادُ بْنُ الرَّبِيعِ. أَخْبَرَنَا خَالِدُ بْنُ سَلَمَةَ حَدَّثَنِي عن أَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى عَنْ أَبِيهِ قَالَ: مَا كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – يَشُكُّونَ فِي شَيْءٍ إِلا سَأَلُوا عَنْهُ عَائِشَةَ فَيَجِدُونَ عِنْدَهَا مِنْ ذَلِكَ عِلْمًا).[3]

ابو بُرده بن ابي موسي د خپل پلار څخه روايت کوي هغه فرمايي: کله چي به د رسولﷺ اصحابو ته يوه مسئله شکمنه سول، نو د عايشې رضي الله عنها څخه به يې پوښتنه کول نو د ام المؤمنين عايشې رضي الله عنها سره به يې د هغې مسئلې په اړه علم پيدا کاوه.

(قال مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ قال: كان أزواج النبيﷺ يَحْفَظْنَ مِنْ حَدِيثِ النَّبِيِّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –كَثِيرًا وَلا مِثْلا لِعَائِشَةَ وَأُمِّ سَلَمَةَ. وَكَانَتْ عَائِشَةُ تُفْتِي فِي عَهْدِ عُمَرَ وَعُثْمَانَ. إِلَى أَنْ مَاتَتْ يَرْحَمُهَا اللَّهُ. وَكَانَ الأَكَابِرَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – عُمَرُ وَعُثْمَانُ بَعْدَهُ يُرْسِلانِ إِلَيْهَا فَيَسْأَلانِهَا عَنِ السُّنَنِ).[4]

د محمود بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دی، دی فرمايي: د نبيﷺ مبارکو مېرمنو به د نبيﷺ څخه زيات حديثونه يادول چي په دې اړه د عايشې رضي الله عنها او ام سلمې رضي الله عنها مثال نسته، او عايشې رضي الله عنها تر خپل وفات پورې د عمر او عثمان رضي الله عنهما د خلافت په زمانه کښي فتواوي ورکولې، او د نبيﷺ لويو لويو صحابه لکه عمر او عثمان رضي الله عنهما به عايشې رضي الله عنها ته استازي استول او له هغې څخه به يې د نبيﷺ د سنتو په اړه پوښتنې کولې.

---

[1] تعدد زوجات الرسول صلی الله علیه وسلم، ملك غلام مرتضی، مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة، صفحه-(٢١).
[2] تذكرة الحفاظ، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: 748هـ)، جلد -(١) صفحه-(٢٥) ناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان، الطبعة: الأولى، 1419هـ- 1998م، د چاپ موافق.
[3] الطبقات الكبرى، أبو عبد الله محمد بن سعد بن منيع الهاشمي بالولاء، البصري، البغدادي المعروف بابن سعد (المتوفى: 230هـ)، ج-(٢) ص-(٢٨٦)، تحقيق: محمد عبد القادر عطا، ناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، الطبعة: الأولى، 1410 هـ - 1990 م، د چاپ موافق.
[4] الطبقات الكبرى، ابن سعد، ج-(٢) ص-(٢٨٦).

ketabton.com - The Digital Library



لدې ټولو روایاتو څخه دا خبره څرګنده او په ډاګه کیږي چې د نبيﷺ د زیاتو مېرمنو او په خاص ډول د عایشېرضي الله عنها سره واده د یو لوی مصلحت او حکمت له وجې ؤ چې هغه د دیني احکامو نشرول ؤ.

همدارنګه زیاتي پوښتني را پیدا سوي چې وروسته امهات المومنینرضي الله عنهن ددې پوښتنو ځوابونه خپل مسولیت وګاڼه، له دې وجي عایشهرضي الله عنها فرمایي: ( اللهجل جلاله دې د انصارو پر ښځو رحم وکړي، هیڅکله حیا او خجالت د دین د زړده کړي څخه را ونه ګرځولې.[1]

او ځیني ښځي به د شپې لخوا ام المومنین عایشېرضي الله عنها ته راتلې او د دین د بعضو احکامو په اړه یې پوښتني کولې لکه حیض، نفاس، جنابت او داسي نور مسائل، چي امهات المومنینرضي الله عنهن به په ډېره ښه طریقه جوابولې، د امهات المومنین د علم او دیانت له وجي زیاتي ښځي عالماني او په دین پوه سوې.[2]

دا خبره د یادولو وړ ده چې امهات المؤمنین یوازي د حیض، نفاس او طهارت مسائل نه ځوابول او نه نبي ﷺ یوازي دارنګه مسائل ورښودلي دي، بلکه د دین هره ضروري او د هر اړخ خبره یې د ضرورت مطابق ورښودلي ده.

نو په اخر کښي دا خبره د کولو وړ ده چي؛ هغه امهات المومنین چي اللهجل جلاله هغو ته عزت ورکړی د مومنانو د میندو په لقب سره یې نومولي دي، او په دنیا او اخرت کښي به د رسول اللهﷺ مېرمني وي، آیا د دوی څخه ماسیوا څوک سته چي د نبيﷺ اقوال او افعال ( په ځانګړي ډول د ښځو اړوند مسائل لکه حیض، نفاس، جنابت، د خاوند او ښځي تر منځ مسائل او داسي نور) تر موږ پوري په ښه ډول رانقل کړي؟ نو بیله شکه د نبيﷺ د کورني ژوند په حالاتو، افعالو او حرکاتو د امهات المومنینرضي الله عنهن څخه ماسیوا هیڅوک هم په صحیح او دقیق ډول خبر نه دي، نو پایله دا سوه چي د امهات المومنینرضي الله عنهن څخه معلماني او محدثاني جوړي سوې، چي یو شمېر زیات احادیث یې را نقل کړل، چي د حفظ او ذکاوت له وجي یې زیات شهرت پیدا کړ.[3]

---

[1] رفع ابهامات و اباطیل از تعدد زوجات رسول الله صلي الله علیه وسلم، محمد علي صابوني، ص :(١٣).فارسي ژباړه، ناشر: د عقیدي سایټ،

[2] مخکنی مرجع

[3] رفع ابهامات و اباطیل از تعدد زوجات رسول الله صلي الله علیه وسلم، ص:(١٣).

ketabton.com - The Digital Library



چي په دې اساس د ام المؤمنين عايشيﷺ څخه (۲۲۱۰) احاديث را نقل سوي دي، چي له دې احاديثو څخه (۱۲۶) احاديثه په بخاري او مسلم کښي رانقل سوي، چي يوازي په بخاري کښي (۵۸) احاديثه او په مسلم کښي (۶۸) احاديث را نقل سوي.[1]

او پاته احاديث د احاديثو په نورو کتابو کښي نقل سوي دي.

## دوهم: تشريعي حکمت

نبيﷺ د (تعليمي حکمت تر څنګ) د ځينو تشريعي مقاصدو او هدفونو لپاره هم واده کړي ؤ، چي له دې وجي ځيني هغه عادات چي د جاهليت له زماني راهيسي رايج وه باطل او منسوخ کړل، لکه تبني[2] او تاخي[3].

پخوا په عربو کښي دا عادت ؤ، چي چا ته به يې وويل چي: "ته زما زوی يې" نو په حقيقي ډول به يې زوی باله، او په ټولو احکامو کښي به يې د نسبي زوی په سترګه ورته کتل، لکه واده، طلاق، د نکاح محرمات او مېراث.

همداشان ځينو خلګو به نورو ته په خطاب کي ويل: "ته زما ورور يې" نو پدې خبري سره به هغه دده حقيقي ورور وګرځېدی، او هغه څه چي نسبي ورور ته حلال وه هغه به دې نوي غيرنسبي ورور ته هم حلال وه او هغه څه چي نسبي ورور ته حرام وه هغه به غير نسبي ورور ته هم حرام وه.

د عربو ددې عادت سره سم مخکي رسول اللهﷺ زيد بن حارثهﷺ په زويوالي نيولی ؤ، او خلګو به زيد بن حارثهﷺ ته زيد بن محمدﷺ وايه، مطلب دا چي زينب بنت جحشﷺ مخکي د زيد بن حارثهﷺ چي د رسول اللهﷺ متبني زوی کېدی تر نکاح لاندي وه، خو د دوی دوو تر منځ مشکلات پيدا سوه، بلاخره زيدﷺ را ولاړ سو او زينب بنت جحشﷺ يې طلاقه کړل، په حقيقت کښي اللهﷻ غوښتل تر څو د عربو دا عادت باطل او منسوخ کړي، نو اللهﷻ رسو اللهﷺ ته امر وکړ تر څو زينب بنت جحشﷺ په نکاح کړي، مګر په لمړي سر

---

[1] انټرنيټ سايټ: http://fatwa.islamweb.net/،

[2] تبني: غير نسبي زوي په زويوالي نيول، په حقوق کښي د نسبي زوي او دده ترمنځ فرق نه کول.

[3] غير نسبي ورور په وروروليـ نيول، او بيا ټول هغه حقوق چي سکه ورور ته ورکول کيږي ده ته هم ورکول.

ketabton.com - The Digital Library



کښیي رسول اللهﷺ د خلګو د خبرو څخه په ویره کښیې ؤ او متردد ؤ، تر څو خلګ ونه وایې چې محمد ﷺ د خپل زوی د کوروالا سره نکاح وکړل، تر څو چې په دې اړه ایت نازل سو: ( وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَاهُ).[1]

ژباړه: ته له خلګو څخه ویریږې، په داسي حال کښیي چې الله ﷻ ددې زیات حقدار دی چې ورڅخه ووېرېږې.[2]

چې په دې اساس رسول اللهﷺ د تبني عادت (یعني بل په زویوالي نیول) د ام المومنین زینب بنت جحش رضي الله عنها سره په نکاح کولو چې د نبيﷺ متبني زوی زید بن حارثه رضي الله عنه لخوا طلاقه سوې وه دا عادت باطل اعلان کړ.

دلته یوه مهیمه نقطه پرته ده هغه دا چې؛ د نبيﷺ څخه ماسیوا بل هیچا هم د تبني عادت باطلولای سوای کولای، نو الله جل جلاله پر نبي ﷺ د زینت بنت جحش رضي الله عنها سره واده کول فرض کړل تر څو د تبني نظام په باطل کړي.

ددې په مثل نبيﷺ د وروروليې عادت د ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها سره په واده کولو سره باطل کړ، ځکه چې عایشه رضي الله عنها د اسلامي ورور ابوبکر صدیق رضي الله عنه لور وه، نبيﷺ و ابوبکرصدیق رضي الله عنه ته ویلي وه، "ته زما ورور یې په اسلام کښیي" نه دا چې ته زما نسبي ورور یې، نو نبيﷺ په اسلام کښیي د وروروليې او د نسب پر اساس د وروروليې تر منځ فرق او جلاوالي د ام المؤمنین عایشې رضي الله عنها سره په واده کولو سره وکړ.[3]

## دریم: ټولنیز حکمت

نبيﷺ غوښتل چې د خپښيې او خپلوۍ له لاري د اسلامي امت د مهِمو او بارزو شخصیتونو ترمنځ روابط ټینګ او تلپاتي کړي، نو له دې وجې یې د عایشې رضي الله عنها سره چې د ابوبکرصدیق رضي الله عنه لور وه نکاح وکړه، او همدارنګه د حفصې رضي الله عنها سره چې د عمرفاروق رضي الله عنه لوره وه نکاح وکړه، چې په دې اساس د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما رابطه د نبيﷺ سره کلکه او پیاوړې سوه، چې د نبيﷺ د وفات څخه وروسته همدغو دوو خلیفه ګانو د اسلام او مسلمانانو لپاره زیات او پرځاي خدمتونه ترسره کړي دي.[4]

---

[1] سورت الاحزاب، ۳۷ ایت.
[2] پښتو ژباړه: کشاف، سورت الاحزاب، ۳۷ ایت.
[3] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله علیه وسلم، ملک غلام مرتضی، ص-(۱۱۱)، د چاپ موافق.
[4] مخکنۍ مرجع، ص:(۱۱۲).

ketabton.com - The Digital Library



له بله اړخه نبي ﷺ و ځينو صحابهؤ ته خپلي لورگاني ور په نکاح کړي دي، دوې لوڼې يې عثمان بن عفان رضي الله عنه ته او يوه لور يې علي بن ابي طالب رضي الله عنه ته ور په نکاح کړې وه، نو له دې وجې سيدنا ابوبکر، عمرفاروق، عثمان، او علي بن ابي طالب رضي الله عنهم تر ټولو خلگو زيات و نبي ﷺ ته نژدي، گران او محبوب سول.[1]

## ځلرم: سياسي حکمت

د نبي ﷺ نکاح د ام المومنين بي بي جويريې رضي الله عنها سره چي د بني مصطلق د مشر لور وه د ځينو سياسي اهدافو او حکمتو پيلامه وه،(د بني مصطلق قوم د مسلمانانو سره په پيل کي دښمني او جنگونه کول مگر د جويريې رضي الله عنها د نکاح په سبب د بني مصطلق قوم نور د جنگ څخه لاس پر سر سول او ايمان ئې راوړ).[2]

او همدارنگه د بني مصطلق د قوم د بنديانو خوشي کولو حکمت هم ددې باعث سو چي د بني مصطلق قوم ايمان راوړي او د لاري شکونکو اعمالو او غلاو څخه چي د مسلمانانو پر ضد يې ترسره کول لاس واخلي، نو ددې نکاح څخه وروسته چي نبي ﷺ د بني مصطلق د مشر د لور سره وکړه هيڅ کومه پېښه نسته چي بني مصطلق قبېلې دې د مسلمانانو پر ضد ترسره کړې وي.[3]

ميمونه رضي الله عنها د قريشو د قبيلې څخه وه، او د عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما خاله وه، او د ځينو قبايلو د مشر د ښځي خور وه، هغه قبايل چي د اسلام او مسلمانانو په مقابل کښې سره يو وه، او( ۷۰ ) صحابه يې په غدر او خيانت شهيدان کړي وه، نو کله چي رسول الله ﷺ ددې سره نکاح کوي، نو ددې قبېلو دښمني او غدر د مسلمانانو په مقابل کښې کميږي.[4]

همدارنگه د نبي ﷺ نکاح د ام المؤمنين صفيې رضي الله عنها سره چي د بني قريظه د قوم د مشر حيي بن اخطب لور وه ددي پيلامه سوه چي د يهودو مخکني پلانونه او دريځونه چي د اسلام پر ضد د حيي بن اخطب په ذريعه تحريک سوي وه کم کړي.

[1] مخکني مرجع، ص (۲۲).
[2] د ليکونکي زياتونه.
[3] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله عليه وسلم، ملک غلام مرتضی، ص-(۱۱۲)
[4] تعدد زوحات الرسول الله صلي الله عليه وسلم، ملک غلام مرتضي، ص-(۱۱۲)، مکتبه شامله د چاپ موافق.

ketabton.com - The Digital Library



همداشان د نبيﷺ نکاح د ام المؤمنين ام حبيبېرضي الله عنها سره چي د قريشو د سردار ابوسفيان لور وه، ددي نکاح ثمره دا سوه چي ابو سفيان د مخکني دښمنۍ او عداوت دريځ چي د اسلام او نبيﷺ په اړه يې درلودی کم کړي او مدينې منورې ته په داسي حال کښي راغلی چي د حديبې د صلحي د نوې والي پيغام يې له ځان سره لاره، ددې نکاح څخه وروسته ابوسفيان د مسلمانانو پر ضد په جنگ کښي نه دی ليدل سوی.

## پنځم: انساني حکمت

د مخکنيو حکمتو او مصالحو تر څنگ د نبيﷺ د زياتو مېرمنو د کولو څخه يو هم انساني مصلحت او حکمت ؤ، په حقيقت کښي نبيﷺ د ځينو ښځو سره د انساني لطف او مهربانۍ له وجي هم د نکاح عقد تړلي ؤ، چي ددي نکاح سببونه په لاندي ډول دي.

الف- ځيني زړي او کونډې سوي ښځې چي په ژوند کښي يې کوم کومک کونکی او سرپرست نه درلود.

ب- بعضي هغه وينځياني چي د کفالت لپاره يې کوم کفيل او غمخور نه درلود.

ج- ځيني ښځې د دې وېرې له وجي که چيري خپلي کورنۍ ته ور وگرځي نو سخت عذاب به ورکړي او په لويو لويو فتنو کښي به واقع سي نو نبيﷺ له دوی سره د دين، عزت او نفس د ساتني له وجي نکاح وکړه چي له دې جملې څخه ام المؤمنين ام سلمهرضي الله عنها يادولايسو چي د نکاح په وخت کښي يې عمر(۶۰) کاله ؤ، او د همدارنگه د ام المؤمنين سودهرضي الله عنها ده، چي د نکاح په وخت کښي يې عمر(۵۵) کاله ؤ، او ام المؤمنين زينب بنت خزيمهرضي الله عنها يادولايسو، چي د نبيﷺ سره يې د نکاح په وخت کښي عمر(۶۵) کاله ؤ.[1]

نو د هغه مستشرقينو او تور لگونکو نظر ددې ښځو په اړه څه دی؟ پداسي حال کښي چي د نبيﷺ د مېرمنو عمرونه د نکاح پر مهال ۵۰ څخه تر ۶۵ پوري دي، آيا پدې سره د يو انسان د کوروالۍ خواهش پوره کيږي، نه هيڅکله نه، دا د نبيﷺ هغه بې مثاله ايثار او خپل خواهش تر پښو لاندي کول ؤ چي د داسي زياتو عمر لرونکو ښځو سره يې د انساني کرامت او مهربانۍ له وجي نکاح کړې وه.[1]

[1] مخکنۍ مرجع- صفحه-(۲۳)، د چاپ موافق.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږم: د اسوه يې حسنې(یا ښه اقتداء) حکمت

نبي کريمﷺ د زياتو مېرمنو د کولو څخه يې يو مصلحت دا هم ؤ تر څو امت ته وښيې چې څنګه د خپل اهل سره ژوند وکړي، په داسي حال کښې چې نبيﷺ تر څلورو زياتي مېرمني لرلي، يعني دا چې امت د خپلو څلورو مېرمنو تر منځ عدل او انصاف وکړي، نو پيغمبرﷺ پخپل اعلی او عظيمو اخلاقو سره وښودل چې تر څلورو هم د زياتو مېرمنو د ساتلو او تر منځ يې د عدل او خير رسولو کښې تر هر چا مخته او مقتداء دی.

پيغمبرﷺ د خپلو مېرمنو سره د ښه سلوک، په خير رسولو او عدل کولو کښې يوه اعلی نمونه وه، نو د خبري د ښه څرګندولو لپاره پکار ده چې ددې حکمت لپاره ځيني مثالونه ذکر کړو تر څو مسلمانه کورنۍ د پيغمبرﷺ په کورني ژوند خبر سي او په هغهﷺپسي اقتداء وکړي.

### الف- د عدل ويش

نبي کريمﷺ پدې کښې زيات حريص ؤ چې خپل وخت په عدل او انصاف سره د خپلو ميرمنو سره تېر کړي، هره ورځ به د هرې مېرمني ملاقات ته ورتلی، تر څو چې اخر به د هغې مېرمني ملاقات ته ورغلی چيري چې به يې شپه تيرول.[2]

خو کله چې د ام المؤمنين سوده بنت زمعهرضي الله عنها عمر زيات سو، نو د پيغمبرﷺ د رضاء د حاصلولو لپاره يې خپل د ملاقات شپه و عايشېرضي الله عنها ته ورکړل.

(عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ سَوْدَةَ قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ وَهَبْتُ يَوْمِي لِعَائِشَةَ، «فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْسِمُ لَهَا يَوْمَهَا»).[3]

ژباړه: د ام المؤمنين عايشې صديقېرضي الله عنها څخه روايت دی چې ام المؤمنين سودهرضي الله عنها وويل: اې د الله رسوله!، ما خپل نوبت و عايشېرضي الله عنها ته بخښلی دی، نو پيغمبرﷺ به د سودېرضي الله عنها نوبت و عايشېرضي الله عنها ته ورکوی.

---

[1] مخکني ماخذ.

[2] مخکنی مرجع، صفحه(۴۳).

[3] مسند احمد، امام احمد بن حنبل، باب: مسند الصديقة عائشة بنت الصديق، ج: (۴۱) ص:(۲۷)، محقق: شعيب الارنؤوط، عادل مرشد او نور، نشرونکی: مؤسسة الرسالة، المکتبة الشامله، موافق د مطبوع.

ketabton.com - The Digital Library



همدارنګه کله چي به رسول الله ﷺ د سفر اراده کول، نو د خپلو مېرمنو په منځ کښي به يې قرعکشي کول، نو د چا نوم چي به راووتي، هغه به د پيغمبر ﷺ سره په سفر تلل؛ تر څو د دوی ترمنځ پوره عدل وکړي، خو کله چي پيغمبر ﷺ د حج کولو اراده وکړل نو ټولي مېرمني يې د ځان سره حج ته بوتلې.[1]

## ب - د پيغمبر ﷺ کومک د کور په کارو کښي

(عن عروه، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، أَيُّ شَيْءٍ كَانَ يَصْنَعُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ عِنْدَكِ؟ قَالَتْ: «مَا يَفْعَلُ أَحَدُكُمْ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ، يَخْصِفُ نَعْلَهُ، وَيَخِيطُ ثَوْبَهُ، وَيَرْقَعُ دَلْوَهُ»).[2]

ژباړه:د عايشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وسول: چي اې د مؤمنانو مور! پيغمبر ﷺ به په کور کښي څه عادت ؤ؟ عايشې رضي الله عنها ورته وويل: لکه څنګه چي يو ستاسو څخه د خپل کور په خدمت کي وي، پيغمبر ﷺ به خپله چپلکه پينه کول، خپل کالي به يې ګنډل، او څلواغه به يې پيوندول.

## ج- خپلي مېرمني نه وهل

(عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ، وَلَا امْرَأَةً، وَلَا خَادِمًا، إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ).[3]

ژباړه: د ام المؤمنين عايشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دی؛ فرمايي: پيغمبر ﷺ هيڅکله هيڅ شي په لاس نه دی وهلی، او نه يې ښځه وهلې ده، او نه يې خادم وهلی دی، مګر يوازي يې د الله په لار کښي جهاد کړی دی. يعني د کفارو په مقابل کښي جنګيدلی دی، او قتال يې کړی دی.

## د - د خپلو مېرمنو د وفات وروسته ورسره وفاء کول

خديجه رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ اوله کوروالا وه، چي د ځوانۍ لمړۍ مرحله يې ورسره تېره کړې وه، خو کله چي وفات سول، نو پيغمبر ﷺ به هر وخت په ښه يادول، او د هغې د همزولو او شناختو سره به يې ښه کول.[4]

[1] الطبقات الكبرى، ابن سعد، (المتوفى: 230هـ)، ج: (٨) ص: (١٣٥). تحقيق: محمد عبد القادر عطا، نشرونکی: دار لكتب العلمية-بيروت، الطبعة الاولی.

[2] صحيح ابن حبان، محمد بن حبان البستي، متوفي: ٣٥٤هـ، محقق: شعيب الارنؤوط، ناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت، جلد: (١٢)، صفحه: (٤٩٠).

[3] صحيح مسلم، مسلم بن الحجاج ابوالحسن القشيري النيسابوري، متوفي: ٢٦١هـ، محقق: محمد فؤاد عبدالباقي، ناشر: دار احياء التراث العربي-بيروت، موافق للمطبوع، جلد: (٤) صفحه: (١٨١٤).

[4] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله عليه وسلم صفحه: (٤٥).

ketabton.com - The Digital Library



په صحیحینو کښې د عایشې صدیقېؓ څخه روایت دی فرمایي: (قَالَتْ: مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ، وَمَا رَأَيْتُهَا، وَلَكِنْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا، وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً، ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ خَدِيجَةَ، فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ: كَأَنَّهُ لَمْ يَكُنْ فِي الدُّنْيَا امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيجَةُ، فَيَقُولُ «إِنَّهَا كَانَتْ، وَكَانَتْ، وَكَانَ لِي مِنْهَا وَلَدٌ»).[1]

ژباړه: ما د هيڅ ميرمنې سره دومره نه ده کړې څومره چې مې د خديجېؓ سره کړې ده، ځکه چې رسول اللهﷺ به ډېره يادول، او کله چې به پیغمبرﷺ پسه ذبح کړ، نو يو څه برخه به يې د خديجېؓ د همزولو لپاره ګرځول، او ما به ورته ويل: داسې معلومېږي لکه د خديجېؓ پرته چې بله ښځه په دنيا کې نه وي؟، نو پیغمبرﷺ وويل: همداسې ده، همداسې ده، او له دې څخه زما اولادونه سوې دي.

## هـ- له خپلو مېرمنو سره ساعتيرى او بازى کول

نبيﷺ به هميشه تبسم کوی، د خپلو ميرمنو سره به يې نرمي ، مينه او الفت کوی.[2]

د ام المؤمنين عايشې صديقېؓ څخه روايت دی، دا فرمايي: (عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا سُئِلَتْ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَلَا فِي بَيْتِهِ، فَقَالَتْ: كَانَ أَلْيَنَ النَّاسِ وَأَكْرَمَ النَّاسِ، كَانَ رَجُلًا مِنْ رِجَالِكُمْ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ ضَحَّاكًا بَسَّامًا).[3]

ژباړه: د عايشېؓ څخه پوښتنه وسول چې پیغمبرﷺ چې به کله په کور کې يوزاي سو نو څنګه کردار يې درلود؟، نو عايشېؓ ورته وويل: پیغمبرﷺ تر ټولو خلګو زيات نرم او تر ټولو خلګو زيات مهربانه ؤ، او هغه يو شخص ؤ ستاسو په ډول، مګر هغه زيات خندا لرونکی او تبسم کونکی ؤ.

په صحيحينو کښې د عايشې صديقېؓ څخه روايت دی فرمايي: ما ته پیغمبرﷺ وويل: چې زه ستا په رضايت او خوابدتيا باندې پوهيږم، نو ما ورته وويل: ته څنګه په ما پوهيږې؟! نو پیغمبرﷺ وويل: کله چې ته زما څخه خوشحاله يې نو ته داسې وايې: زما دې د محمدﷺ په رب قسم وي، او کله چې ته زما څخه خوابدې يې

[1] صحيح البخاري، باب: تزويج النبيﷺ خديجه، ج: (۵) ص: (۳۸).
[2] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله عليه وسلم صفحه: (۴۵).
[3] مسند اسحاق بن راهويه، مؤلف: ابو يعقوب اسحاق بن ابراهيم مشهور په ابن راهويه، مړينه:(۲۳۸هـ)، محقق: د.عبدالغفور بن عبدالحق البلوشي، ناشر: مکتبة الايمان- المدينه المنوره، ج: (۳)، ص: (۱۰۰۸)، المکتبة الشامله، موافق للمطبوع.

ketabton.com - The Digital Library



نو ته داسي وايې: زما دې د ابرهيمﷺ په رب قسم وي، نو ما ورته وويل: بلکل همداسي ده... کله چي زه ستا څخه خوابدې یم نو ستاسو نوم نه اخلم.[1]

همدارنګه امام احمد بن حنبلؒ پخپل مسند کښي د عايشيؓ څخه نقل کوي، چي عايشهؓ د رسول اللهﷺ سره په يوه سفر کښي ملګرې وه، او دا ؓ په تن ډنګره وه، نو دېؓ د پيغمبرﷺ سره د ځغاستي مسابقه وکړه، بلاخره دې مسابقه وګټل،او رسول اللهﷺ شاته سو ځکه چي دا کم وزنه وه، خو په بل وار په مسابقه کولو سره پيغمبرﷺ ورڅخه وګټل، نو پيغمبرﷺ ورته خندل او ورته وې ويل: چي يو په يو برابر سوو.[2]

## اووم شخصي حکمت

رسول اللهﷺ د الله ﷻ لخوا اخرنی پيغمبر او استازی دی، چي دده وروسته بل پيغمبر نه راځي، او الله ﷻ نبيﷺ داسي امت ته راوليږی چي د امتونو خير امت دی، او د دې امت د غوروالي او خيريت ننبه داده تر څو پدې اخري دين عمل وکړي او نورو ته د رسولو او امر بالمعروف او نهی عن المنكر وکړي.

او الله ﷻ اخرني پيغمبر ته داسي عالي شانه اخلاق او عالي رهبريت ورکړی، چي د نړۍ انسانان ددهﷺ و افعالو او اقوالو او کردار ته حيران دي، او مسلمانان پدې امر دې تر څو د همدې اخري پيغمبرﷺ اتباع په هر فعل او قول کښي وکړي.

خو ددې تر څنګ الله ﷻ همدې اخري پيغمبرﷺ ته ځينې داسي ځانګړتياوي ورکړي دي، چي مسلمانان يې په اتباع او عمل کولو امر نه دي، دا ځانګړتياوې يوزاي تر رسول اللهﷺ پوري خاص دي، بل هيڅ مسلمان ته نه ښاې چي د رسول اللهﷺ په همدې ځانګړتياؤ باندي عمل وکړي، چي اوس به ځيني ځانګړتياؤ ته په لنډ ډول اشاره وکړو، ان شا الله تعالی.

[1] صحيح البخاري، محمد بن اسماعيل البخاري، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، ناشر: دار طوق النجاة، ج:(۴) ص:(۳۶)، المكتبة الشامله، د طبعي موافق.
[2] مسند احمد،

ketabton.com - The Digital Library



**لمړي**: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لاَ تُوَاصِلُوا» ، قَالُوا: إِنَّكَ تُوَاصِلُ، قَالَ: «إِنِّي لَسْتُ مِثْلَكُمْ، إِنِّي أَبِيتُ يُطْعِمُنِي رَبِّي وَيَسْقِينِي»)[1]

ژباړه: د انس ﷺ څخه روایت دی، چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: تاسو وصال[2] مه کوئ، صحابه ؤ وویل: تاسو خپله وصال کوی، پیغمبر ﷺ ورته وویل: زه ستاسو په شان نه یم، ماته رب جل جلاله د شپې خوراک او څیښاک راکوي، (یعني مرسته راسره کوي او قوت راکوي).

**دوهم**: همدارنګه د پیغمبر ﷺ بل خصوصیت دادی چې دده لپاره دا جواز نلري چې نورې ښځي په نکاح کړي او یا ددې کوروالاو څخه یوه طلاقه کړي، دا ځکه چې امهات المؤمنین د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ رضا او د آخرت اجر د دنیا پر نعمتونو او ښایست غور کړ، او ددې خبري دلیل لپاره د الله جل جلاله دغه قول دی چې فرمایې (لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَاءُ مِنْ بَعْدُ وَلَا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنْ أَزْوَاجٍ).[3]

ژباړه: له دې وروسته ستا لپاره نورې ښځي روا نه دي او نه ددې اجازه سته چې د دوی پرځای نورې ښځي وکړې.[4]

**دریم**: هیڅ مسلمان لره نه ښایې چې د پیغمبر ﷺ مېرمنو سره نکاح وکړي، ځکه چې همدا مېرمني د مؤمنانو مورګاني دي، آیا زوی ته دا جواز سته، چې د خپل مور سره نکاح وکړي؟! دا حرمت د الله جل جلاله پدې قول کښې بیان سوی دی:[5] (وَمَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَنْ تَنْكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِنْ بَعْدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللَّهِ عَظِيمًا).[6]

ژباړه: ستاسو لپاره دا هیڅکله روا نه ده چې د الله جل جلاله رسول ﷺ ته تکلیف ورکړئ او نه هیڅکله دا ستاسو لپاره روا ده چې د هغه وروسته د هغه د مېرمنو سره نکاح وکړئ، دا کار مو د الله په نزد ډېره ستره ګناه ده.

او داسي نورې ځانګړتیاوي چې علماؤ ذکر کړي او جمع کړې دي.[7]

---

[1] صحیح البخاري، ج: (۹) ص:(۹۷)، حدیث نمبر: (۱۹۶۱)، مکتبه شامله د طبعي موافق.

[2] دوې ورځي پرلپسي بیله ماتولو څخه روژه نیول.

[3] احزاب **۵۲** ایت.

[4] پښتو ژباړه: کشاف، سورت احزاب، ۵۲ ایت.

[5] تعددالزوجات في الاسلام و حکمة تعدد زوجات النبي ﷺ، صفحه:(۳۲-۳۱).

[6] احزاب **۵۳** ایت.

[7] پښتو ژباړه: کشاف.

ketabton.com - The Digital Library



# ځلرمه برخه

## د رسول اللهﷺ سره د امهات المؤمنین نکاحوي او تر څنګ یې مصلحتونه

**لمړی: ام المؤمنین خدیجه رضي الله عنها**

خدیجه رضي الله عنها د پیغمبرﷺ لمړۍ میرمن وه، په داسي حال کښي یې د پیغمبرﷺ سره نکاح وکړه، چي عمر یې څلویښتو کلونو ته رسیدلی ؤ او کونډه سوې وه، او د پیغمبرﷺ عمر پدې وخت کښي پنځویشت کاله ؤ.

چي د پنځویش کاله یوځای ژوند کولو څخه وروسته په (۶۵) کلنۍ کښي ام المؤمنین خدیجه رضي الله عنها وفات سول، چي پدې وخت کښي د پیغمبرﷺ عمر پنځوس کاله ؤ، د یادولو وړ ده چي رسول اللهﷺ ددې رضي الله عنها په ژوند کښي د هیچا سره نکاح نه ده کړې.

په همدې کال کښي چي د بعثت لسم کال ؤ د پیغمبرﷺ اکا ابوطالب هم وفات سو، چي دې کال ته مؤرخینو د عام الحزن (یعني د غم کال) نوم ورکړ، ځکه چي رسول اللهﷺ دوه مهم شخصیتونه له لاس ورکړه چي خدیجه رضي الله عنها او ابوطالب ؤ،هغه دوه اشخاص چي د رسول اللهﷺ زیات کومک کونکي او پر هغه لطف کونکي وه. نو لدې امله پیغمبرﷺ د کورني ژوند او تائید له پلوه یوازي او بې مرستي سو.[1]

دا د پیغمبرﷺ د ځوانۍ لمړنۍ مرحله وه، هغه مرحله چي په فطري ډول د انسان خواهش او شوق زیات وي، انسان معمولاً په داسي حالت کښي د داسي ښځي سره نکاح کوي چي عمر یې تر ده کم او یا یې هم همزولي وي، خو پیغمبرﷺ خپل خواهش او شوق تر پښو لاندي کړ، او د یوې داسي ښځي سره یې نکاح وکړه چي عمر یې دده د عمر څخه پنځلس کاله زیات ؤ، ځکه چي رسول اللهﷺ خپل هدف او مقصد پیژندلي ؤ چي هغه الهي دین رسول ؤ نه خپل خواهش پوره کول، او دا پر هغه طعن اچونکو او تهمت لګونکو یهودو او مستشرقینو باندي یو لوی ګزار دی چي رسول اللهﷺ ته د شهواني انسان خطاب کوي العیاذ بالله، کچیري دوی د عقل او بصیرت څخه کار واخلي نو همدا یوه واقعه د دوی د هرې پوښتني جواب دی.

[1] تعدد زوجات الرسول الله صلي الله علیه وسلم، ملك غلام مرتضی، المکتبة الشامله، ص: (۱۵۴).

ketabton.com - The Digital Library



**دوهم: ام المؤمنين سوده**ﵣ

د رسول اللهﷺ نکاح د ام المؤمنين سوده ﵣ سره په داسي حال کښي کيږي، چي پر پيغمبرﷺ باندي امتحانونه او سختۍ زياتي سوي وې، او پيغمبرﷺ زيات و کورني سکون او اطمينان ته اړتيا لرل، نو له دې امله هغهﷺ د سودېﵣ سره واده وکړ، چي پدې وخت کښي ددېﵣ عمر پنځه پنځوس کاله ؤ.

دا واقعه زيات د فکر وړ واقعه ده، چي پيغمبرﷺ د څومره زيات عمر لرونکي ښځي سره نکاح وکړه، ددې لپاره فکر وکړه چي د اسلام د دښمنانو افترات او تهمتونه درک کړې، او د دوی دغه بې ځايه تورونه باطل او په منطقي او نقلي ډول ئې جواب کړې.

سودهﵣ د مؤمنو مهاجرو ښځو له جملې ښځه وه، سکران بن عمرو چي د سودې ﵣ لمړي خاوند ؤ، د هجرت په دوهم کال په حبشه کښي وفات سو، چي د هغه ښځه وروسته سودهﵣ کونډه سوه، او هيڅ کومک کونکی او ملاتړ يې نه درلود، کچيري و خپل غير مسلمان اهل او کورنۍ ته ورگرځيدلې وای نو عذاب به يې ورکړی وای او کيدای سوای چي بيرته يې و شرک ته دعوت کړې وای، او بل هيڅوک نه ؤ چي ددې کفالت او د دې د دين حفاظت وکړي.

نو له دې کبله خيرالبشرﷺ له سودهﵣ سره پداسي حال کښي نکاح وکړه، چي دا يوه مسکينه، کونډه او ناچاره وه، چي ددې نکاح په کولو سره پيغمبرﷺ د کونډو سره د نکاح کولو او هغوی ته د اسلامي بشري حقوقو په ورکولو سره يو اسلامي قانون يا حکم بيان کړ، پداسي حال کښي چي په نورو باطلو اديانو او ملتونو کښي دارنگه ښځو ته هيڅ پاملرنه نه کيږي.

خو دا يو واضح حقيقت دی، چي رسول اللهﷺ ټول بشيريت ته راليږل سوی دی، نه يو ځانگړي قوم ته، لکه پخواني پيغمبران چي به يو قوم ته راليږل کيده.[1]

نو له دې کبله د پيغمبرﷺ پدې کړنې سره د نورو ټولو محرفو اديانو او ملتونو هغه خرافات او د بشر ضد کړني باطلي کړې، چي د ښځو سره او په ځانگړي ډول به يې د کونډيانو سره کولې، پيغمبرﷺ دارنگه ښځو ته په نکاح کولو سره عزت ورکړ، چي په همدې مبارک سنت باندي ټول مومنان هم اقتداء کوي.

ketabton.com - The Digital Library



**درېیم: ام المومنین عایشه صدیقه رضي الله عنها**

ام المومنین عایشه رضي الله عنها د پیغمبر ﷺ هغه مبارکه میرمن وه، چې مخکې یې واده نه و کړی، پیغمبر ﷺ د زینب بنت جحش رضي الله عنها سره په نکاح کولو سره د تبني هغه عادت له منځه یو وړ چې مخکې د جهالت په زمانه کښې موجود ؤ.

همدا ډول رسول الله ﷺ د ام المومنین عایشه صدیقه رضي الله عنها سره په واده کولو سره د وروروليـ پخوانی د جهالت رسم او عادت لمنځه یوړ، چې مخکې به عربو یو چا ته په ورور ویلو سره هغه حقیقي ورور گاڼه او د هغه د لور سره به یې نکاح نه کول.

نو پیغمبر ﷺ د عایشې صدیقې رضي الله عنها په نکاح کولو سره د جاهلیت رسم او عادت لمنځه یو وړ، په داسې حال کښې چې د عایشې رضي الله عنها عمر ۹ کاله ؤ، او د پیغمبر ﷺ د وفات وروسته یې ۴۸ څلویښت کاله ژوند وکړ، چې د همدې نکاح څخه هدف ښځو او نارینو ته د دین نشر او د دین رسول ؤ.

د عایشې رضي الله عنها د علم تاثیر نن ورځ موږ وینو، کله چې مسجد نبوي ته داخل سو، نو هلته یو ستن د (اسطوانة عائشه) یعني د عایشې رضي الله عنها ستن) په نامه شتون لري، او صحابه به د همدې ستنې سره کښیناستل، د رسول الله ﷺ تر وفات وروسته به یې د عایشې رضي الله عنها څخه په دیني امورو کښې پوښتنې کولې، او عایشې رضي الله عنها به په ښه ډ ول جوابونه ورکول او دیني احکام به یې د خپلې کوټې څخه چې اوس د پیغمبر ﷺ مبارک قبر دی، تدریس او بیانول.

همدا ډول کله چې به ابوبکر، عمر، عثمان او نور صحابه رضي الله عنهم ؤ ته په دیني اموراتو کښې کوم مشکل پیدا کیدی، نو ام المومنین عایشې صدیقې رضي الله عنها ته به یې رجوع کول تر څو نوموړی مشکل حل کړي.[2]

په دې اړه مورخینو دا خبره ذکر کړې ده، چې د دین د څلرمې برخې احکام د رسول الله ﷺ د وفات څخه اته څلویښت کاله وروسته د ام المؤمنین عایشې صدیقې رضي الله عنها په کوښښونو تر اسلامي امت پورې رسیدلي دي، او پخپله به یې په هغه کوټه کښې چې د پیغمبر ﷺ مبارک جسد پکښې ښخ سوی دی ژوند کوی، خو کله چې

[1] مخکنۍ مرجع، ص: (۱۵۵) المکتبة الشامله.
[2] مخکنۍ مرجع، ص: (۱۵۶-۱۵۵)المکتبة الشامله.

ketabton.com - The Digital Library



عمرؓ وفات سو نو عایشېؓ خپل ځای و عمرؓ ته ورکړ تر څو عمرؓ هلته د پیغمبرﷺ تر څنګ ښخ کړل سو، او عایشېؓ به ویل زه اوس حیا کوم چې د عمرؓ په شتون کښې هلته پاته سم.

حتی کله کله به ام المؤمنین عایشېؓ د لویو صحابه ؤ ځیني فقهي خطاګاني هم اصلاح کولې، له دې کبله علامه سیوطيؒ پدې اړه مستقله رساله هم لیکلې ده، او په هغه کښې یې دا خبره ذکر کړې ده چې څنګه ام المؤمنین عایشېؓ د صحابه ؤ خطاګاني اصلاح کولې، او خپله رساله یې د (عین الاصابة فیما استدرکته عائشة علی الصحابة) په نوم نومولې، چې پدې رساله کښې یې د عایشېؓ فتواوي رانقل کړې دي.

او په دې اړه یې یوه واقعه هم ذکر کړې ده، چې یوه ورځ ابوهریرهؓ مسئله بیان کړل، چې د جنابت په حالت کښې روژه نه صحیح کیږي، نو عایشې او ام سلمېؓ و ابوهریرؓ ته خبر ورکړ چې د جنابت په حالت کښې روژه صحیح کیږي، ځکه چې نبيﷺ به کله کله د جنابت په حالت کښې په داسي حال کښې سهار کړ چې روژه به یې نیولې وه، او د پیشلمي وروسته به یې د جنابت غسل کوی.

د ابوموسی اشعريؓ څخه روایت دی، دی فرمایې: چې کله به د پیغمبرﷺ پر صحابه ؤ باندي د یوې مسئلې په اړه علم کم سو، نو ام المومنین عایشېؓ ته به یې رجوع کول، او هغې به د نوموړي مسئلې په اړه خبر ورکاوه.[1]

امام زهري تابعي رحمة الله علیه فرمایلي دي:

(کانت عائشة أعلم الناس یسألها الأکابر من أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ").

امام زهري تابعيؒ د قبصه بن ذوئبؓ څخه روایت کوي چې هغه فرمایې: عائشهؓ تر ټولو خلګو زیاته عالمه وه، لویو صحابه ؤ به پوښتني ځیني کولې.[2]

عروه بن زبیرؓ فرمایلي دي:

[1] طبقات ابن سعد، ج:(۲)، صفحه: (۳۲۲)، ذکر من کان یفتي بالمدینه ویقتدي به من اصحاب رسول اللهﷺ.

[2] سنن ترمذي، محمد بن عیسي الترمذي، مړینه: (۲۷۹هـ)، باب: من فضل عائشهؓ، ص: (۷۰۵)، ج: (۵) تحقیق او تعلیق: احمد محمد شاکر، ناشر: مکتبة ومطبعة مصطفي البابي الحلبي – مصر، المکتبة الشامله، موافق للمطبوع.

ketabton.com - The Digital Library



(قَالَ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ أَعْلَمَ بِالْقُرْآنِ وَلَا بِفَرِيضَةٍ وَلَا بِحَلَالٍ وَلَا بِحَرَامٍ وَلَا بِشِعْرٍ وَلَا بِحَدِيثِ الْعَرَبِ وَلَا بِنَسَبٍ مِنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا») "[1]

ژباړه: عایشهرضي الله عنها تر هر چا په قرانکریم، په فرائضو، په حلالواو حرامو، په فقه، په شعر، په طب او د عربو په احوالو او نسب ښه پوهیده.

**ځلرم: ام المؤمنین حفصه بنت عمر**رضي الله عنها

حفصهرضي الله عنها مخکي د خُنَیْس بن حذافهرضي الله عنه تر نکاح لاندي وه، کله چي خنیس بن حذافهرضي الله عنه په بدر کښي شهید سو، نو دا کونډه پاته سوه.

په همدې حالت کښي رقیهرضي الله عنها د عثمان بن عفان میرمن هم وفات سوه، نو عمررضي الله عنه **خپل** لور و عثمانرضي الله عنه ته په نکاح ورکولو په هوډ کي سو، لکه څنګه چي په صحیح بخاري کي د عبدالله بن عمررضي الله عنهما څخه روایت دی، دی: فرمایي چي عثمانرضي الله عنه وفرمایل: (سَأَنْظُرُ فِي أَمْرِي، فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ، فَقَالَ: قَدْ بَدَا لِي أَنْ لاَ أَتَزَوَّجَ يَوْمِي هَذَا، قَالَ عُمَرُ: فَلَقِيتُ أَبَا بَكْرٍ، فَقُلْتُ: إِنْ شِئْتَ أَنْكَحْتُكَ حَفْصَةَ بِنْتَ عُمَرَ، فَصَمَتَ أَبُو بَكْرٍ فَلَمْ يَرْجِعْ إِلَيَّ شَيْئًا، فَكُنْتُ عَلَيْهِ أَوْجَدَ مِنِّي عَلَى عُثْمَانَ، فَلَبِثْتُ لَيَالِيَ ثُمَّ «خَطَبَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْكَحْتُهَا إِيَّاهُ» فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ فَقَالَ: لَعَلَّكَ وَجَدْتَ عَلَيَّ حِينَ عَرَضْتَ عَلَيَّ حَفْصَةَ فَلَمْ أَرْجِعْ إِلَيْكَ؟ قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَرْجِعَ إِلَيْكَ فِيمَا عَرَضْتَ، إِلَّا أَنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ ذَكَرَهَا، فَلَمْ أَكُنْ لِأُفْشِيَ سِرَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَوْ تَرَكَهَا لَقَبِلْتُهَا).[1]

ژباړه: عثمانرضي الله عنه وفرمایل: زه به پدې اړه فکر وکړم، نو یو څو شپې تیري سوې، وروسته یې وفرمایل: زما قصد د واده نه دی، نو بیا عمررضي الله عنه وویل: بیا ما ابوبکررضي الله عنه ته وویل: که ستا خوښه وي حفصه زما لور به درته په نکاح کړم، ابوبکررضي الله عنه چپ سو او هیڅ جواب یې را نکړ، د ابوبکررضي الله عنه دې چُپتیا زه د عثمانرضي الله عنه تر جواب زیات غمجن کړم، بیا څو ورځي تېرې سوې، بیا وروسته رسولصلی الله علیه وسلم مرکه د حفصېرضي الله عنها په هکله راته وکړل او حفصهرضي الله عنها مي ورته په نکاح کړه، وروسته ابوبکررضي الله عنه راته وویل: کله چي تا ما ته د حفصېرضي الله عنها په هکله د نکاح خبره وکړه او ما تاته هیڅ جواب درنکړ نو کیدا یسي ستا په زړه کي به زما په اړه څه خبره درګرځیدلې وي، ما

[1] حلیة الأولیاء وطبقات الأصفیاء، أبو نعیم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسی بن مهران الأصبهاني (المتوفی: 430هـ)، ج:(۲) صفحه: (۴۹)،الناشر: السعادة - بجوار محافظة مصر، 1394هـ - 1974م، دار الکتب العلمیة- بیروت (طبعة 1409هـ بدون تحقیق)، مکتبه شامله، موافق د مطبعي.

ketabton.com - The Digital Library



ورتهوویل بلي هو، نو ابوبکرﷺ راته وویل: چي ما لدې کبله تاته جواب نه درکوی چي د حفصيﷺ په هکله رسول اللهﷺ خبره کړې وه، نو ما نه غوښتل چي د رسول اللهﷺ راز ښکاره کړم، خو کچیري رسول اللهﷺ حفصهﷺ نه وای په نکاح کړي نو بیا ما قبلول.

د یادوني وړ ده چي د پیغمبرﷺ نکاح د ام المؤمنین عایشې صدیقيﷺ او ام المؤمنین حفصيﷺ سره د ټولنیز اړخه د لوی اهمیت څخه برخمن ده، ځکه پدې نکاح سره د رسول اللهﷺ اړیکه او رابطه د ابوبکرﷺ او د عمرﷺ تر منځ قوي او تلپاتي سوه.

**پنځم: ام المؤمنین زینب بنت خزیمةﷺ**

د ام المؤمنین زینب بنت خزیمهﷺ مخکنی خاوند عبیده بن الحارث ؤ، چي د بدر په غزا کښي شهید سو، او زینبﷺ د هغه ښځو له جملې څخه ده چي په خپل نفس او مال سره یې د الله په لاره کښي قرباني ورکړه، او د خپل خاوند پر شهید کېدو باندي یې زیات صبر وکړ، تر څو چي مشرکینو ماته وخوړل او مسلمانان بري ته ورسیدل، چي پدې وخت کښي د ام المومنین زینبﷺ عمر شپیتو کالو ته نژدې سوی ؤ، او داسي څوک نه ؤ چي ددېﷺ سرپرستي یې کړې وای.

خو کله چي رسول اللهﷺ ددې په حال، صبر، جهاد، او اخلاص باندي خبرېږي، نو رسول اللهﷺ په داسي حال کښي د نکاح لپاره مرکه ورلیږي، چي مبارک عمر یې پنځه پنځوس ته نژدې ؤ، او زینبﷺ د رسول اللهﷺ تر وفات وروسته دوه کاله عمر درلود، او وروسته تر دوو کلونو یې خپل روح و الهي قضاء ته وسپاره.[1]

دا هغه نکاح وه چي هدف او حکمت یې د پیغمبرﷺ پر مروت او شهامت باندي دلالت کوي.

خو ددې سره بیا هم حاسدین اشخاص دنبيﷺ ددې عزتمني نکاح په کولو سره پر پیغمبرﷺ باندي د شهواني تهمت لګوي، نعوذبالله من ذالک.

[1] صحیح البخاري، باب: عرض الانسان ابنته او اخته علي اهل، ج:(۷) ص:(۱۳)، المکتبة الشامله، د طبعي موافق.

ketabton.com - The Digital Library



**شپږم: ام المؤمنین ام سلمه هند المخزومیه رضي الله عنها**

ام المومنین ام سلمه رضي الله عنها مخکې د عبدالله بن عبدالاسد په نکاح کښې وه، چې د اولینو مسلمانانو له ټولۍ څخه دی، خو کله چې حالات په مکه کښې ورباندې تنګ سول، نو د خپل خاوند سره یې یوځای حبشې ته هجرت وکړ، خو وروسته یې خاوند په داسې حال کې د احد په غزا کې شهید سو چې تر شا یې څلور یتیمان پرې ایښې وه، چې دوه کوچنې هلکان او دوې کوچنۍ انجونې وې، او دوی د خپل پلار څخه وروسته بې کفیله او بې سرپرسته پاته سول، چې پدې حالت کښې د ام المومنین ام سلمې رضي الله عنها عمر د پنځه پنځوس او شپیتو تر منځ ؤ.

نو رسول الله ﷺ د ام سلمې رضي الله عنها ددې سخت حالت د درک کولو څخه وروسته د کفالت او سرپرستۍ پخاطر د نکاح لپاره مرکه ورولیږل، خو په اول سر کښې ام سلمې عذر وړاندې کړ، او وې ویل چې" زه زیاته سپینسرې یم، او د یتیمانو مور یم، او زه غیرتي یم، یعني بوني نه خوښوم". نو پیغمبر ﷺ ددې رضي الله عنها د خبرې په جواب کې ورته وویل" زه د عمر د زیاتوالي باک نه کوم، او یتیمان ما ته راولیږه، او زه الله جل جلاله ته دعا کوم چې ستا د زړه څخه غیرت یعني ( بوني نه خوښول) لیرې کړي.

نو الله جل جلاله د رسول الله ﷺ دعا قبوله کړل، او د ام سلمې رضي الله عنها د زړه څخه د بونو نه خوښولو صفت پورته سو، او د پیغمبر ﷺ سره یې پر نکاح کولو باندې فیصله وکړل، پیغمبر ﷺ تر خپل اصلي پلار زیات د دې رضي الله عنها د یتیمانو سره مینه کول، او په ډېر ښه ډول یې پالنه او تربیه کول.[2]

ام المومنین ام سلمه رضي الله عنها د هغو ښځو له جملې څخه وه، چې د ام المؤمنین عایشې صدیقې رضي الله عنها سره یوځای یې د ابوهریره رضي الله عنه هغه خطاء ور اصلاح کړل، چې ویل یې: د جنابت په حالت کښې روژه صحت نلري، نو ام سلمې او عایشې رضي الله عنها په دواړو د ابوهریره رضي الله عنه دغه خطاء ور اصلاح کړل، ورته وې ویل چې پیغمبر ﷺ به په داسې حال کښې سهار کړ او روژه به یې وه چې غسل به یې لا نه ؤ کړی.

---

[1] تعدد زوجات رسو الله ﷺ ص:(۱۵۸).

[2] مخکنۍ مرجع، ص:(۱۵۸).

ketabton.com - The Digital Library



ددې واقعه څخه دا خبره معلومه سوه چې رسو الله ﷺبه کله کله د غسل پرځای په اوداسه ویدېدی او سهار وختي به ئې غسل کاوه، همدا سنت طریقه چې د شپې د کوروالی وروسته به یا څوک غسل کوي یا به په اوداسه ویدیږي.

**اووم: ام المؤمنین زینب بنت جحش**رضي الله عنها

ام المؤمنین زینبرضي الله عنها د پیغمبرﷺ د اکا لور وه، او د عبدالله بن جحش خور وه، او عبدالله بن جحش هغه صحابي ؤ چې د بدر په غزا کښې شهید سو، رسول اللهﷺ لمړی د زینبرضي الله عنها نکاح د زید بن حارثه سره وکړل، او رسول اللهﷺ زید رضي الله عنه په زویوالي نیولی ؤ، او زید د رسول اللهﷺ په زوی مشهوره ؤ، خو ام المؤمنین زینبرضي الله عنها ته رسول اللهﷺ د شرف او نسب له وجې تر زید زیات فضلیت او شرف درلودی، ځکه چې زید رضي الله عنه مخکې له دې چې رسول اللهﷺ یې په زویوالي ونیسي یو غلام پاته سوی ؤ، نو له دې کبله د زید رضي الله عنه او زینب رضي الله عنها ترمنځ اړیکه خرابیدل، او په ځینو روایاتو کښې راځي، چې زینبرضي الله عنها و زید رضي الله عنه ته سختې خبرې وکړې، نو زید رضي الله عنه رسول اللهﷺ ته شکایت وکړ، او د زینبرضي الله عنها د طلاق اراده یې وکړه، مګر رسول اللهﷺ هغه منع کړ او نصیحت یې ورته وکړ چې: " خپله کوروالا دې د ځان سره وساته" مګر ددې سره د دوی دوو تر منځ اختلافات ډیریدل تر څو چې زینبرضي الله عنها یې طلاقه کړل.[1]

الله جل جلاله د خپل حکمت لمخې غوښتل تر څو رسول اللهﷺ د جاهلیت جوړ سوی د تبنې( [1]) نظام له منځه یوسي، ځکه دا داسې نظام ؤ چې یو عربي به د یو بل چا زوی ته وویل چې ته زما زوی یې "زه ستا څخه میراث وړم او ته به زما څخه میراث وړې".

تبنې ( یا په زویوالي نیولی زوی) به په ټولو چارو کښې داسې ګرځیدی لکه خپل حقیقي زوی، حتی د زوجیت په مسائلو کښې هم د حقیقي اولاد په څیر معامله ورسره کیده.

مګر الله جل جلاله نه غوښتل چې د جاهلیت دغه فاسد نظام دې نور هم ادامه پیدا کړي،نو له دې کبله الله جل جلاله دغه نظام باطل کړ، په صحیح بخاري او صحیح مسلم کښې د عبدالله بن عمررضي الله عنهما څخه روایت دی:

[1] تعدد زوجات رسولﷺ، ص:(۱۵۹).

ketabton.com - The Digital Library



(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ زَيْدَ بْنَ حَارِثَةَ، مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوهُ إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ القُرْآنُ»، {ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ} [الأحزاب: ٥ ايت])[2]

ژباړه: د عبدالله بن عمر (رضي الله عنهما) څخه روایت دی چي فرمايي: زید بن حارثه د رسول الله ﷺ آزاد سوی غلام به موږ په زید بن محمد ﷺ باندي یاداوه تر څو چي په دې اړه آیت شریف نازل سو. الله ﷻ فرمايي: په خوله بللي زامن، د هغو خپلو پلرونو ته په منسوبولو وبولئ؛ دا د الله ﷻ په وړاندي زیاته عادلانه خبره ده.[3]

نو له دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: " ته زید بن حارثه بن شرحبیل یې".

کله چي زید بن حارثه (رضي الله عنه) زینب (رضي الله عنها) طلاقه کړل، الله ﷻ رسول الله ﷺ ته امر وکړ چي زینب (رضي الله عنها) په نکاح کړي تر څو د تبنې (یا زوي والي) نظام په کامل ډول لمنځه ولاړ سي.

لکه څنګه چي قرانکریم پر دې خبرې باندي شاهد دی چي رسول الله ﷺ د خلګو خبرو څخه په ویره کښې ؤ ځکه خلګ به وایې: چي محمد ﷺ د خپل زوی د ښځې سره نکاح وکړل،.

نو له دې وجي قرانکریم په دې اړه نازل سو، الله ﷻ وفرمایل:

ژباړه: [اې پیغمبره ﷺ] هغه وخت (یاد کړه) چي تا هغه چا ته چي پر هغه باندي الله او تا لورینه کړې وه، وویل: "خپله مېرمن مه پرېږده او له الله څخه ووېرېږه." په هغه وخت کښې تا پخپل زړه کښې هغه خبره پټه کړې وه چي الله ﷻ د هغې ښکاره کول غوښتل، ته د خلګو څخه وېرېدلې، په داسي حال کښې چي الله ددې زیات حقدار دی چي ورڅخه ووېرېږې، بیا کله چي زید له هغې څخه خپل حاجت پوره کړ، نو موږ هغه (طلاقه شوې مېرمن) تا ته په نکاح کړه، تر څو چي پر مؤمنانو د خپلو په خوله بللیو زامنو د مېرمنو په باب څه ستونزه پاته نسي، کله چي هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي، او د الله حکم خو باید عملي سوی وای.[4]

ددې قطعي حکم څخه وروسته بل ایت نازل سو چي د پیغمبر ﷺ څخه وروسته بل نبي نه راځي او هغه دغه لاندي ایت دی:

---

[1] غیر نسبي زوی حقیقي زوی بلل.

[2] صحیح بخاري، ج٦ ص١١٢ ، حدیث٤٧٨٢ ، مکتبه شامله، د چاپ موافق.

[3] پښتو ژباړه: کشاف.

[4] سورت الاحزاب (٣٧) ایت

ketabton.com - The Digital Library



{مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيماً}[1]

ژباړه: (اې خلکو!) محمد ﷺ ستاسي له نارینه و څخه د هیچا پلار نه دی، هغه خو د الله رسول او اخرنی او وروستنی نبي دی، او الله په هر شي علم لرونکی دی.[2]

دا خبره د یادولو وړ ده چي د پیغبر ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نه راځي، کچیري پیغمبر ﷺ د تبني (یا زویوالي) نظام له منځه وړی نه وای، پداسي حال کښي چي رسول الله ﷺ په زړه کښي د خلګو د خبرو ویره هم لرل، نو چا به دا بدعت له منځه وړی وای؟.

په قرانکریم کښي د پدې اړه صریح نص راغلی دی، الله عزوجل فرمایي: {زَوَّجْنَاكَهَا}، یعني موږ به زینب رضي الله عنها در په نکاح کړو، او دایې ځکه د پیغمبر ﷺ په نکاح کړه تر څو د زویوالي بدعت له منځه په یوسي، نو د پیغمبر ﷺ لپاره دا کار حتمي ؤ تر څو د زید رضي الله عنه د طلاقي سوي ښځي یعني زینب رضي الله عنها سره نکاح وکړي، ځکه که رسول الله ﷺ دا کار ونکړي نو څوک به دا کار ترسره کړي ځکه چي د محمد ﷺ څخه وروسته بل پیغمبر نه راځي.[3]

نو د رسول الله ﷺ هره نکاح د حکمت څخه خالي نه ده، لکه څنګه چي مخکي واضح سول زید رضي الله عنه د رسول الله ﷺ متبني زوی ؤ، یعني خپل نسبي زوی یې نه ؤ، بلکه په زویوالي یې نیولی ؤ، نو رسول الله ﷺ وغوښتل ترڅو زینب ورپه نکاح کړي، او همداسي وسول، خو وروسته د زید رضي الله عنه او زینب رضي الله عنها تر منځ ژوند تریخ سو، او بلاخره یې طلاقه کړل، په لمړي سر کښي رسول الله ﷺ نه غوښتل چي زینب رضي الله عنها په نکاح کړي خو وروسته الهي امر ورته وسو تر څو زینب رضي الله عنها په نکاح کړي او د متبني یا زویوالي د جاهلیت نظام باطل کړي، نو همداسي وسول رسول الله ﷺ پدې نکاح سره د ابد لپاره د زویوالي نظام باطل اعلان کړ، او دا یې وښودل چي غیر نسبي زوی د حقیقي زوی په شان په احکامو کښي سره یو شان نه دی.

---

1 سورت الاحزاب (۴۰) ایت.

2 پښتو ژباړه: کشاف

3 تعدد زوجات رسول ﷺ، ص:(۱۶۰).

ketabton.com - The Digital Library



**اتم: ام المؤمنین جویریه بنت الحارث**رضي الله عنها

ام المؤمنین جویریهرضي الله عنها مخکي د ماتع بن صفوان په نکاح کښي وه، او ماتع د اسلام او په ځانگړي ډول د رسول اللهﷺ سخت دښمن ؤ، ماتع بن صفوان د بني مصطلق په غزا کښي ووژل سو، او جویریهرضي الله عنها مسلمانانو بندي ونیول.

ام المؤمنین جویریهرضي الله عنها د بنو مصطلق د قبیلې د مشر لور وه، او بني مصطلق هغه قبیله وه چي پر مسلمانانو به یې حملې کولې او ضرر به یې ورته رسوی.

په ابو داود کي د ام المؤمنین عایشېرضي الله عنها څخه روایت دی، فرمایي:

ژباړه: د حدیث لنډ مفهوم: جویریهرضي الله عنها د بني مصطلق په غزا کښي د ثابت بن قیس په برخه وینځه ونیول سول، نو رسول اللهﷺ ازداه کړل، او بیا یې د جویريرضي الله عنها په خوښه په نکاح کړل، نو د نکاح خبره په خلگو کښي مشهوره سول، او رسول اللهﷺ د جویريرضي الله عنها له وجي کوچنیان او د بني مصطلق د قبیلې سل نفره ازاد کړل.[1]

نو ددې مبارکي نکاح په کولو سره د بنو مصطلق د قبېلې لارشکونه او حسد د مسلمانانو په وړاندي کم سو.

رسول اللهﷺ مخکي له دې چي د جویريرضي الله عنها سره نکاح وکړي د دوو خبرو اختیار یې ورکړ:

لمړی: دا چي یا به د خپل پلار سره خپل قوم ته ځي.

دوهم: یا به اسلام راوړي او د پیغمبرﷺ سره به نکاح کوي.

نو جویريرضي الله عنها د کفر او خپلې قبېلې ته د رجوع پر ځای اسلام او د رسول اللهﷺ سره نکاح کول یې اختیار او خوښ کړل.

نو ددې مبارکي نکاح په سبب د بنو مصطلق قبېلې ایمان راوړ او ازاد سول، او د لارشکوني کارونه یې پرېښول.

نو وروسته به خلگو ویل: "چي جویریهرضي الله عنها د خپل قوم د ایمان راوړولو سبب سوه".

[1] سنن ابي داود، ابو داود سلیمان بن الاشعث، السجستاني، مړینه(۲۷۵هـ)، ج:(۴) ص:(۲۲) حدیث:(۳۹۳۱)، محقق:محمد محي الدین عبدالحمید، ناشر: مکتبة العصریة، بیروت، مکتبه شامله، د طبعي موافق.

ketabton.com - The Digital Library



**نهم: ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها**

ام المؤمنين ام حبيبه رضي الله عنها د ابو سفيان لور وه، او ابو سفيان د اسلام په لمړي سر کښي د ابوجهل څخه وروسته د اسلام سرسخت دښمن ؤ.

ام حبيبې رضي الله عنها په مکي دور کښي اسلام قبول کړی ؤ، او بيا د خپل مخکني خاوند عبدالله بن جحش سره يوځای يې حبشې ته هجرت وکړ، او خاوند يې په داسي حال کښي په حبشې کښي وفات سو چي دې نه کوم کومک کونکی درولود او نه سرپرست، سره ددې کچيري دا و مکې ته ستنه سوې وای، نو پايله به يې دا وای چي پلار به يې دوباره کفر ته مجبوره کړې وای، او يا به يې سخت عذاب ورکړی وای، او په مدينې منورې کښي داسي څوک نه ؤ چي ددې سرپرستي او کفالت دې يې کړی وای.

کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام حبيبې رضي الله عنها د خاوند په وفات خبر سو، نو د سرپرستۍ په اساس ئې مرکه ورولېږل، د حبشې باچا نجاشي ته يې نفر ور ولېږل تر څو د ام حبيبې واده د پيغمبر صلی الله علیه وسلم سره ور وکړي، نو کله چي ام حبيبه رضي الله عنها د پيغمبر صلی الله علیه وسلم په مرکه باندي خبره سوه، نو بې حده خوشحاله سول، او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره يې پر نکاح کولو رضايت وښود، نو نجاشي ام حبيبه رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نکاح کړل، او خپله نجاشي د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا ام حبيبې رضي الله عنها ته څلور سوهديناره مهر ورکړ، او سره د نورو تحفو يې و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ولېږل، چي پدې وخت کښي د ام حبيبې رضي الله عنها عمر اوه دېرش کاله ؤ، کله چي ابوسفيان پدې واده باندي خبر سو نو تائيد يې وکړ.

ددې نکاح تر شا لوی حکمت نغښتی ؤ، او هغه حکمت د ابو سفيان او د قوم د زړه ميلان پيدا کول ؤ، چي ددې نکاح په سبب په مکه کښي پرمسلمانانو باندي عذاب کم سو، اومشرکينو د صلحي سره زيات رغبت پيدا کړ.

ابو سفيان په داسي حال کښي مدينې منورې ته ځي چي د صلحې د نوې کولو پلان لري، او د خپل لور ملاقات د رسول الله صلی الله علیه وسلم په کور کښي کوي، او ام حبيبه رضي الله عنها خپل پلار ابوسفيان ته دا خبره کوي چي د اسلام څخه ماسيوا انسان د عزت وړ نه دی که څه هم خپل پلار وي، نو ددې مبارکې نکاح څخه وروسته ابوسفيان د مسلمانانو په مقابل کښي جنگ کونکی نه دی راوتلی.[1]

[1] تعدد زوجات الرسول صلی الله علیه وسلم، ص: (۱۰۶).

ketabton.com - The Digital Library



**لسم: ام المؤمنین صفیه رضي الله عنها**

ام المؤمنین صفیه رضي الله عنها د یهودو د بنو قریظه د مشر حیي بن اخطب لور وه، بنو قریظه او بنو نضیر دوې داسې قبیلې وې چې د رسول الله ﷺ سره یې د صلحې تړون کړی ؤ، خو وروسته همدغو دوو قبیلو خیانت او غدر وکړ او تړون یې مات کړ.

صفیه رضي الله عنها د خیبر په غزا کښې د خپل خاوند د قتل وروسته بندي ونیول سوله.

کله چې صفیه رضي الله عنها و رسول الله ﷺ ته ورغلل، نو رسول الله ﷺ ورته وویل:

" ستا پلار زما سره سخته دوښمني کول تر څو چې الله عزوجل قتل کړ". " نو صفیې رضي الله عنها ورته وویل: اې د الله رسوله؛ الله عزوجل پخپل کتاب کښې فرمایې: {وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى} ". ژباړه: هیڅ پیټی پورته کوونکی د بل پیټی نه پورته کوي.

نو رسول الله ﷺ ورته وویل: "کچیري تا اسلام خوښ کړ نو زه به دې د خپل ځان سره وساتم، او که دې چیري یهودیت اختیار کړ نو کیدایسي چې ازاده دې کړم، تر څو دوباره خپل قوم ته ورسې"، نو صفیې رضي الله عنها وویل: " اې د الله رسوله ما اسلام پیژندلی دی، او مخکې له دې چې ما دعوت کړې ما ته صادق بللی وې، او په یهودیت کښې به زه په ډېر لښکر څه وکړم، او په یهودیت کښې به زه په پلار او ورور څه وکړم، او تا ماته د کفر او اسلام اختیار راکړ، نو ماته الله عزوجل او رسول ﷺ تر ازادولو او قوم ته تر ګرځېدو زیات خوښ او محبوب دي".

نو رسول الله ﷺ د صفیې رضي الله عنها سره د هغې په رضایت نکاح وکړل، چې ددې نکاح څخه وروسته زیات شمېر یهودو اسلام قبول کړ، او ددې وروسته یهودو د نورو عربي قبیلو سره د رسول الله ﷺ په مقابل کښې لاس نه دی یو کړ.[1]

ketabton.com - The Digital Library



**یولسم: ام المؤمنین میمونه رضي الله عنها**

ام المؤمنین میمونې رضي الله عنها د رسول الله ﷺ څخه مخکې دوه ځلي نکاح کړې ده، چې دوهم خاوند یې (ارحم بن عبدالعزی) د هجرت په اووم کال مړ سو، او ام المؤمنین میمونه رضي الله عنها د مور لخوا د (زینب بنت خزیمه رضي الله عنها) خور وه، دا نکاح د لوی مصلحت څخه برخمنه ده، ځکه چې میمونه رضي الله عنها د ځینو عربي قبایلو د مشر د ښځي خور وه، هغه قبایل چې د اسلام او مسلمانانو په مقابل کښې سره یو وه.

همدغو قبېلو د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه تر څو (۷۰) داسي خلگ د دوی قبېلې ته واستوي چې عالمان وي، تر څو دوی ته دین ور زده کړي، خو دوی د رسول الله ﷺ د اصحابو سره غدر وکړ او وې وژل.

نو دوی همداسي پر خپلي دوښمنۍ پاته سول، تر څو چې رسول الله ﷺ د میمونې رضي الله عنها په نکاح سره د دوی د مشر سره خپښې وکړه.[1]

نو ددې وروسته د نوموړو قبایلو دښمني د مسلمانانو په مقابل کښې کم سوه، او د عربو سره یې د مسلمانانو په مقابل کښې د لاس یو کولو څخه ډډه وکړه.

ومن الله التوفیق

پورتنۍ موضوع مي دکندهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځۍ څخه د فراغت لپاره په کال د ۱۳۹۵کې لیکلې وه، د نظر ثاني وروسته مي دوباره تصحیح کړل، دا چې دا موضوع د زیات ارزښت څخه برخمن ده او نن ورځ ددې موضوع اړوند سوالونه د کفارو په ځانګړې ډول د ملحدینو او مستشرقینو له لوري مسلمانانو ته متوجه کیږي نو هر مسلمان باید دا کتاب یو وار خامخا ووائي او تر نورو مسلمانانو پوري ئې ورسوي تر څو د ملحدینو او مستشرقینو د سوالونو لپاره جواب ویونکې و اوسي.

سبحانک الله وبحمدک اشهد ان لااله الا انت استغفرک و اتوب الیک.

[1] مخکنۍ مرجع، ص:(۱۰۷).

ketabton.com - The Digital Library



## پایله

1. د زیاتو مېرمنو کول خپله د الله عَزَّوَجَلَّ لخوا و رسول الله ﷺ ته حکم او د نبي ﷺ ځانګړتیا وه.
2. د نبي کریم ﷺ په هر قول، فعل او تقریر کښې زیات حکمتونه او مصلحتونه نغښتي ، چي په احساسولو سره یې نور هم ایمان ته زیاتوب وربخښي.
3. نبي ﷺ د زیاتو میرمنو په لرلو کي یوازي نه دی، بلکه تیرو پیغمبرانو علیهم السلام هم زیاتي مېرمني لرلي.
4. د جاهلیت په زمانه کي کفارو هم زیاتي مېرمني په یوه وخت کي لرلي او نکاح ئې ورسره جایز بلل.
5. د دې نقلي او منطقي بحث څخه وروسته دا خبره په ډاګه کیږي چي د ملحدینو ، مستشرقینو او نورو کفارو تهمتونه او تورونه د نبي ﷺ په شان کي د نورو تورونو په شان بې بنسټه او بې اصله دي.

[1] تعدد زوجات الرسول ﷺ، ص:(۱۰۷).

ketabton.com - The Digital Library



## مصادر

1. قرانکريم.
2. ابو داود، ابو داود سليمان بن الاشعث، السجستاني، سنن ابي داود، مړینه(۲۷۵هـ)،محقق:محمد محي الدين عبدالحميد، ناشر: مكتبة العصرية، بيروت، مکتبه شامله، د طبعي موافق.
3. ابن حبان، محمد بن حبان البستي، صحیح ابن حبان، متوفي: ۳۵۴هـ، ناشر: مؤسسة الرسالة- بيروت.
4. ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي، البداية والنهاية، ،(المتوفى: 774هـ)، الناشر: دار إحياء التراث العربي، الطبعة: الأولى 1408، هـ - 1988 م، ترقيم الكتاب موافق للمطبوع.
5. ابن راهويه، ابو يعقوب اسحاق بن ابراهيم مشهور په ابن راهويه، مسند اسحاق بن راهويه، ، مړینه:(۲۳۸هـ)، محقق: د.عبدالغفور بن عبدالحق البلوشي، ناشر: مكتبة الايمان- المدينه المنوره.
6. ابن سعد، الطبقات الكبرى، (المتوفى: 230هـ، نشرونکی: دار لکتب العلمية-بيروت.
7. الأصبهاني، أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران الأصبهاني، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء، (المتوفى: 430هـ)، ناشر: السعادة - بجوار محافظة مصر، مکتبه شامله.
8. بخاري، محمد بن إسماعيل البخاري، صحيح البخاري، الناشر: دار طوق النجاة.
9. بن حنبل، امام احمد بن حنبل ،مسند احمد، محقق: شعيب الارنؤوط، عادل مرشد او نور، نشرونکی: مؤسسة الرسالة، المکتبة الشامله، موافق د طبعې.
10. ترمذي، محمد بن عيسي الترمذي، سنن ترمذي، ، مړینه: (۲۷۹هـ)، ناشر: مكتبة ومطبعة مصطفي البابي الحلبي – مصر.
11. جوهري، محمد ربيع محمد الجوهري، موسوعة بيان الاسلام، دويمه برخه، د رسولانو بيان، د نبيﷺ د ژوند په اړه شبهات، د في ډي ايف کتاب په حواله.
12. ذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي، تذكرة الحفاظ، (المتوفى: 748هـ)، ناشر: دار الكتب العلمية بيروت-لبنان، الطبعة: الأولى، 1419هـ- 1998م، د چاپ موافق.

ketabton.com - The Digital Library



13. علوان ، عبدالله ناصح علوان، تعددالزوجات في الاسلام و حكمة تعدد زوجات النبيﷺ، ناشر: درالسلام.

14. صابوني ، محمد علي صابوني، رفع ابهامات و اباطيل از تعدد زوجات رسول اللهﷺ، ، فارسي ژباړه: د عقيدې سايټ، ناشر: د عقيدې سايټ.

15. مرتضى، ملك غلام مرتضى، تعدد زوجات الرسول صلى الله عليه وسلم، ، د چاپ موافق ، ناشر: مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.

16. نيسابوري، مسلم بن الحجاج ابوالحسن القشيري النيسابوري، صحيح مسلم، متوفي: ۲۶۱هـ، ناشر: دار احياء التراث العربي- بيروت.

18. www.almaany.com، معجم المعاني الجامع.

20. http://fatwa.islamonline.net/، فتوا اسلام ان لاین .نیټ

په درنښت

شکرالله (رسولي)

۱۴۳۹/شعبان/۲۲

۱۳۹۷/ثور/۱۸

تلیفون شمېره:0700988015

ایمیل ادرس:rasooly99@yahoo.com

فیسبوک ادرس: Shukrullah.Rassooly1

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*